# د تقلید حقیقت

لیکوال

**محمودالحسن الجمیري**

ژباړن

**مومن مهاجر**

۱۳۸۹ - وږی/ ۲۰۱۰ زیږدیز- سپتمبر

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

## د کتاب ځانګړني

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | د تقلید حقیقت |
| لیکوال | :: | محمودالحسن الجمیري |
| ژباړن | :: | مومن مهاجر |
| د خپرونو لړ | :: | (۱) |
| چاپشمېر | :: | (۱۰۰۰) ټوکه |
| کمپوز | :: | پخپله ژباړن |
| د موندلو ځای | :: | مکتبه قاسمیه، کاسي روډ-کوټه<br>افغان قرطاسیه، مدد چوک-کندهار |
| د ژباړن د ایمېل ادرس | :: | muhajir222@yahoo.com |

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

ketabton.com - The Digital Library

ډالۍ

**ټولو حقیقت پلټونکو ته!**

ketabton.com - The Digital Library



سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

# د کتاب لیکلو انګېزه

ما په حنفي کورنۍ کې سترګې وغړولې، په حنفي کورنۍ کې لوی شوم، په حنفي ټولنه کې مې وخت تېر کړ او همدارنګه مې زدکړې هم پر حنفي ښوونکو وکړې، له همدې امله مې د امام ابوحنیفة رحمه الله تقلید کاوه، ځکه زما پلار حنفي و.

تر دې وروسته چې کومو استادانو ما ته ښوونه وکړه او پر ما یې د علم احسان وکړ، هغوی هم حنفیان وو، پر همدې اساس حنفي مذهب زما په زړه او دماغ کې محکم شو، له همدې امله ما په غیرشعوري ډول هغه څه ویل چې د درالمختار لیکوال ویلي دي: (الحق مانحن علیه والباطل ما علیه خصومنا) یعنې موږ(احناف) پر حق او زموږ مخالفین (مالکیان، شوافع او حنبلیان) پر باطل دي.

له همدې وجې مې دا اړتیا نه احساسوله چې موږ تر کومه ځایه پر حق یو؟!

ځکه د امام صاحب رحمه الله لوړ شان، په فقه کې ډېر مهارت او د زماني په اعتبار مخته والي ته په کتلو به مې د خپل مذهب پر خلاف هر حدیث لکه نه شی هسې ګاڼه او په بدن کې به مې د اغزو په څېر ننوت. له هغه څخه د ځان خلاصولو او تېښتې لپاره چې کومې لارې-چارې راښوول شوې وې، هغه به مې ټولې پرې عملي کولې.

ketabton.com - The Digital Library



## ځرنګه مې شعور بيدار شو؟

کله چې په ځلورم ټولګي کې وم، نو د فقهې مشهور کتاب (شرح وقایه) مې ويله. يو وخت زموږ ګران استاد عبدالقيم حفظه الله د اذان پر مسئله بحث کاوه، په دې منځ کې يوه زدکوونکي له هغه څخه پوښتنه وکړه چې بلال ﷺ خو د تهجد اذان کاوه، موږ ولې عمل نه ورباندې کوو؟ استاد ځواب ورکړ چې دا زموږ مذهب نه دی، دا د امام شافعي رحمه الله مذهب دی.

په دې ورځ زما په ذهن کې دا پوښتنه پيدا شوه چې ځرنګه د رسول اکرم ﷺ په حضور کې د تهجد لپاره د بلال ﷺ اذان صحيح دی، خو موږ يې صحيح نه بولو؟! بله خبره مې دا واوريده چې په هره مسئله کې به د امام شافعي رحمه الله مذهب ناسم ثابتيدی او د امام ابوحنيفة رحمه الله مذهب صحيح. د دې ټولو په اوريدو مې په زړه کې دا خبره پيدا شوه چې اورمرو د يوې خبرې د پټولو هڅه کيږي. پر دې خبرې هغه وخت باوري شوم چې پلار مې بيا-بيا راته وويل چې نور کتابونه مه ګوره، يوازې د خپل درس کتابونه مطالعه کوه، خو د دې مشهور عربي متل چې: (بَنُوْادَمَ حَرِيْصٌ فِيْمَامُنِعَ) پر بنا مې د هرې مسئلې لپاره د ځلورو مذاهبو د کتابونو مطالعه اړينه وبلله. کله چې به مې هغو کتابونو ته رجوع کوله، نو حقيقت به بل څه و.

په هر حال؛ انسان ته دا ډيره سخته ده چې هغه مذهب پريږدي، چې د ده د پلار، مور، نيکه او استادانو مذهب وي، خو ايا دا عذر الله تعالى مني او ايا په دې سړی خلاصيدای شي؟ او که د يوې باطلې عقيدې سړی موږ ته دا عذر وړاندې کړي، نو ايا موږ د هغه عذر په دې ويلو منو چې د خپل محسن پر مذهب پاتې شه، ځکه دا ښاغلی ستا خواخوږی دی؟ هيڅکله نه! چې کله دا سې ده نو موږ ولې دا د ځان لپاره دليل بولو؟ ايا موږ له دې آية څخه نه وېريږو؟:

ketabton.com - The Digital Library



اِذْ تَبَرَّأَ الَّذِينَ اتُّبِعُواْ مِنَ الَّذِينَ اتَّبَعُواْ وَرَأَوُاْ الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الأَسْبَابُ. (البقرة: ۱۶۶ آية)

ژباړه: کله چې رهبران له خپلو پیروانو بېزاره شي، عذاب ووینې او ټول اسباب غوڅ شي.

په هر حال؛ بیا مې ورو-ورو د احادیثو خوا ته میلان ډېر شو او د احادیثو لار مې خپله کړه، خو د دې په بدل کې مې استادانو دا سزا راکړه چې زه یې د بخارۍ او د احادیثو د نورو کتابونو د زدکړې له درسه وایستم او له بریلیک پرته یې له مدرسې رخصت کړم. هذا جزاء من اتخذ حديثه مذهباً

همدا د تقلید او مقلدینو ماهیت دی چې له ډېره وخته ما هم غوښتې پکې وهلې. اوس راشئ دا کتاب ولولئ او د خپل ځان په اړه پخپله پرېکړه وکړئ!.

والله يهدي الى سواء السبيل

محمود الحسن الجمیري
د بنوري ټاون کراچي، جامعه اسلامیه، پخوانی زدکوونکی

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

**ان الحمدلله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذبالله من شرورانفسناومن سيئات اعمالنامن يهده الله فلامضل له ومن يضلله فلاهادى له. واشهد ان لااله الاالله وحده لاشريک له واشهدان محمداعبده ورسوله وصلى الله على امام الانبياء والمرسلين وعلى آله واصحابه اجمعين وعلى من تبعهم باحسان الى يوم الدين.**

**اما بعد: فقد قال الله تعالى في كتابه الكريم:**

اتَّبِعُواْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ وَلاَ تَتَّبِعُواْ مِن دُونِهِ أَوْلِيَاء قَلِيلاً مَّا تَذَكَّرُونَ. (الاعراف، ۳ آية)

ژباړه: (اې مؤمنانو !) د هغه څه پیروي وکړئ چې ستاسو د رب له خوا درته نازل شو ، له هغه پرته د نورو اولیاوو پیروي مه کوئ، ډېر لږ پند اخلئ.
رسول اکرم ﷺ ویلي دي:

**تركتكم على بيضاء ليلهاكنهارهالايزيغ عنهابعدي الاهالک.**

**(رواه احمد، وقال رسول الله ﷺ تركت فيكم امرين لن تضلوماتمسكتم بهماكتاب الله وسنة نبيه، رواه مالک رحمه الله فى موطأباب ۴۶/ ۳والحاكم فى المستدرک والتبريزي فى المشكوة حديث ۱۸۶والسيوطي فى جامع الصغير حديث: ۲۹۳۷سلسة الاحاديث الصحية ۱۷۶۱)**

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: تاسو مې پر داسې نور پرېښوولاست چې شپه یې لکه ورځ داسې ده، له هلاکېدوونکي پرته بل څوک به ورڅخه وانهوړي.

څو ورځې وړاندې مې د (ترويحات خمسه) په نوم د میرمحمد رباني او (اغراض جلالین) په نوم د مولوي عبدالغني صاحب کتابونه ترلاسه کړل.

دغو دواړو پوهانو له خپل بې انصافه او تېري ډک دریځ سره د تقلید ثابتولو ناکامه هڅه کړې وه، بلکې لیکلي یې وو چې له تقلیده په لومړي ځل شیطان بېزاره او لاس پر سر شو او همدا دعوه د بنوري ټاون د جامعه اسلامیه استاد مولانا مفتي محمدولي درویش صاحب هم پخپل کتاب (ایا د جنازې په لمانځه کې فاتحه سنت ده؟) کړې ده. تر دې لویه خبره خو یې لا دا کړې ده چې موسی ﷺ د خضر ﷺ مقلد و.

تر دې وړاندې چې زه پر دې بحث وکړم، درنو لوستونکو ته باید دا ووایم چې تقلید څه ته وایي، تعریف یې څه شی دی او ایا الله ﷻ په قرآن کریم کې د تقلید اجازه کړې ده؟ همدارنګه احناف او غیراحناف تېر شوي علماء تقلید ته په کومه سترګه ګوري او په دې اړه یې نظر څه دی؟.

## تقلید د احنافو په اند:

۱- فان التقليد هوالاخذ بقول الغير بغير معرفة دليله. (عقود رسم المفتي، صفحة ۲۳، للعلامه محمد ابن عابدين شامي)

یعنې له دلیل پرته د یو چا خبره منل تقلید دی.

۲- التقليد العمل بقول الغير من غيرحجة. (مسلم الثبوت ۲/۳۵۰)

یعنې له دلیل پرته د یو چا خبره عملي کول تقلید دی.

ketabton.com - The Digital Library



**٣- التقليد اتباع الانسان غيره فيما يقول او يفعل معتقدا الحقيقة فيه من غير نظروتامل في الدليل كان هذالمتبع جعل قول الغيراوفعله قلادة فى عنقه من غيرمطالبة الدليل.** (د حسامي حاشيه)

ژباړه: تقليد دا دی چې يو څوک د بل چا د خبرې او فعل پيروي وکړي، خو د هغه دليل ته نظر ونه کړي، ګواکې دې سړي د هغه بل قول او فعل له دليل پرته پخپله غاړه کې د غاړګۍ په شان اچولی دی.

**٤- قال ابن الهمام: التقليدالعمل بقول من ليس قوله احدى الحجج بلاحجة.** (تيسيرالتحرير)

ژباړه: علامه ابن الهمام رحمه الله ويلي: تقليد د هغه چا خبره بې دليله منل چې قول يې دليل نه وي.

## په قران کريم کې د تقليد غندنه:

اوس راشئ دا خبره پر قرآن کريم عرض کړو چې ايا زموږ لپاره له دليل پرته د يو چا د خبرې منل روا دي، که نه؟

الله ﷻ وايي:

**قُلْ هَاتُواْ بُرْهَانَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ.** (البقرة، ١١١ آية)

ژباړه: ته ورته ووايه (چې که پخپل فعل او قول کې) رښتيني ياست، نو دليل راوړئ !.

خو په هر وخت کې د مقلد تګلار دا پاتې شوې چې کله هم له ده څخه د دليل غوښتنه شوې، نو ده په دليل کې د خپلو پلرونو او نيکه ګانو عمل وړاندې کړی او ويلي يې دي چې څومره بزرګانو دا کار کړی، ايا هغوی ټول بې لارې وو ؟.

ketabton.com - The Digital Library



عین په همدې ډول چې کله یوه حنفي، یا شافعي او یا بل یوه ته و وایې چې وروره ! د الله قرآن کریم او یا نبوي حدیث خو داسې وایي، نو وایي زموږ پلار او نیکه تل په هدایه(کتاب) عمل کړی دی، زموږ لپاره هماغه کافي دي. قرآن کریم همدا خبره داسې بیانوي:

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْاْ إِلَى مَا أَنزَلَ اللّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ قَالُواْ حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءنَا أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لاَ يَعْلَمُونَ شَيْئًا وَلاَ يَهْتَدُونَ. (المائده، ۱۰۴ آية)

ژباړه: کله چې دوی ته وویل شي د الله نازل کړي کتاب او رسول ته راشئ ! دوی وایي موږ ته هغه څه بس دي چې له پلرونو راپاتې دي، ایا د دوی پلرونه داسې نه وو چې نه په هېڅ پوهېدل او نه پر هدایت وو؟.

فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّىَ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَيَجِدُواْ فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا. (النساء، ۶۵ آية)

ژباړه: ستا په رب قسم ! دوی تر هغو مومنان کېدای نه شي، تر څو چې خپلمنځي اختلافاتو کې تا دربېمګړی نه کړي، بیا ستا پر پرېکړه په ځان کې تکلیف احساس نه کړي او پوره تسلیم شي.

دا مبارک آیت وایي چې کوم څوک د رسول ﷺ په پرېکړه خوښ نه شي، هغه هېڅکله مومن کېدای نه شي.

د دغو آیتونو په رڼا کې تاسو پخپله پرېکړه وکړئ چې ایا اوس هم د تقلید په نارواتوب کې شک شته؟ ایا الله ﷻ له دلیل پرته په دین د عمل کولو امر کوي، که په دلیل سره؟.

ketabton.com - The Digital Library



الله ﷻ وايي:

وَلَاتَقفُ مَالَيْسَ لَکَ بِهِ عِلْمٌ. (الاسراء، ۳۶ آية)

يعنې په هغه شي مه پسې کېږه چې علم پرې نه لرې.

ايا دا ټول آيتونه د تقليد امر کوي، که له هغه منعه؟ اوس کېداى شي يو څوک دا ووايي چې موږ خو د خپلو علماوو پيروي کوو، علماء په دين پوهېږي او د الله ﷻ امر هم داسې دى:

فَاسْئَلُوْااَهْلَ الذِّکْرِاِنْ کُنْتُمْ لَاتَعْلَمُوْنَ. (النحل، ۴۳ آية)

ژباړه: که د يو شي په اړه نه پوهېږئ، له علماوو پوښتنه وکړئ!

د اهل حديثو عوام هم له خپلو علماوو پوښتنه کوي، نو څه وجه ده چې موږ ته بد ويل کېږي؟ نو ځواب دا دى:

که له چا څخه د پوښتنې نوم تقليد وي، نو بيا نن-سبا په ګرده نړۍ کې حنفي نشته، ځکه امام ابوحنيفة رحمه الله عليه خو په نړۍ کې وجود نه لري، هر سړى د خپلې سيمې له علماوو او مفتيانو څخه پوښتنه کوي، نو بيا خو دى د هماغه خپلې سيمې يا مسجد د امام مقلد شو، نه د امام صاحب. که يو څوک ووايي چې زموږ امام خو د امام ابوحنيفة رحمه الله قول راته بيانوي، ځکه نو موږ د خپل مسجد يا سيمې د امام مقلدين نه يو، بلکې د امام ابوحنيفة رحمه الله مقلدين يو، نو موږ وايو عين په همدې ډول چې کله يو څوک زموږ څخه پوښتنه کوي، نو د رسول اکرم ﷺ حديث ورته بيانوو، له همدې وجې هغه زموږ مقلد نه، بلکې د رسول اکرم ﷺ مقلد دى.

بله خبره دا ده چې پورتنى آيت پخپله پر مقلدينو رد دى، نه تائيد، ځکه که يو څوک علم ونه لري هغه پوښتنه کوي، تر پوښتنې وروسته پوهېږي. په آيت کې همداسې راغلي: ان کنتم لاتعلمون. يعنې که مو علم نه درلود، نو پوښتنه وکړئ، څو له هغه سره

ketabton.com - The Digital Library



سم عمل وکړئ. حال دا چې تقليد له څه دليل او حجت پرته د يو چا په خبره عمل کول، لکه څرنګه چې يې وړاندې له تعريف سره حوالې تېرې شوې.

همدارنګه امام شافعي رحمه الله په (فقه الاکبر) کې د تقليد تعريف داسې کوي:

**التقليد قبول قول من لايدری ماقال من اين قال؟ وذالک لايکون علما.** (الفقه الاکبر، ۷ صفحه)

يعنې تقليد د يو چا خبره منل پرته له دې چې څه وايي او له کومه ځايه يې دا خبره کړې ده؟ او دا علم نه دی.

دربيمه خبره دا ده چې الله ﷻ له علماوو څخه د هغوی د شخصي رايې د پوښتلو امر نه دی کړی، بلکې ويلي يې دي چې له هغوی څخه د الله ﷻ او رسول اکرم ﷺ د فرمان پوښتنه وکړئ چې هغوی څه وايي؟ حال دا چې نن-سبا هېڅ حنفي عالم پر قرآن او نبوي احاديثو فتوا نه ورکوي، بلکې پر شامي، فتاوی ديوبند، هدايه او نورو فتاواوو فتویٰ ورکوي. په داسې حال کې چې مستفتي يا پوښتنه کوونکی ليکي چې د قرآن او حديث په رڼا کې ځواب راکړئ. هو! هغه خلک به څنګه پر قرآن او حديث فتوا ورکوي، ځکه دوی نورو کتابونو ته هم د قرآن درجه ورکوي.

## د احنافو وينا ده:

**ان الهدايه کالقران قد نسخت من قبلها في الشرع من کتب.** (مقدمة الهدايه، ۲ ټوک)

ژباړه: هدايه لکه قرآن داسې ده، په شريعت کې يې پخواني کتابونه ټول منسوخ کړل.

د احنافو مطلب دا دی چې؛ لکه څنګه چې تر قرآن کريم وړاندې ټول کتابونه منسوخ شوي، په هغوی عمل کول ګمراهي او کفر دی، همدارنګه چې تر هدايې وړاندې کوم کتابونه ليکل شوي، هغوی ټول منسوخ شوي دي، که څه هم هغه بخاري، مسلم، يا د امام مالک رحمه الله موطأ، يا د امام شافعي رحمه الله کتاب الام او يا د امام احمد

ketabton.com - The Digital Library



رحمة الله مسند وي. په دغو کتابونو عمل کوونکی ګویا په منسوخ شویو کتابونو عمل کوي او له اسلامه وتلی دی.

همدا خبره د شاولي الله صاحب په خوله هم واورئ !:

وترى العام سيماالیوم في كل قطريتقيدون بمذهب من مذاهب المتقدمين يرون خروج الانسان من مذهب من قلده ولوفي مسألة كالخروج من الملة كانه نبی بعث اليه وافترضت طاعته عليه وكان اوائل الامة قبل المأئة الرابعه غيرمتقيدين بمذهب واحد.

(التفهيمات الالهيه، ۱ ټوک، ۲۰۶ مخ. حجة الله البالغة ۱ ټوک، ۴۴۵ مخ)

ژباړه: عام خلک په ځانګړي ډول نن-سبا ؛ د مخکنیو د مذهب مقلدین دي، دوی داسې فکر کوي چې له هغه مذهبه چې دوی یې تقلید کوي، وتل، که څه هم په یوه مسئله کې وي، ګواکې د اسلام پرېښوول دي، دوی خپل امام لکه نبي داسې بولي او اطاعت یې فرض ګڼي، حال دا چې د امت مخکني خلک تر څلورمې پېړۍ وړاندې د هېڅ مقلدین نه وو.

دې ته بیا ګوره ! احناف پر هر هغه چا لعنت وايي چې د امام ابوحنیفة رحمه الله قول ونه مني.

فلعنة ربنا اعدادرمل على من رد قول ابي حنيفة رحمه الله. (ردالمحتار، ۱ ټوک، ۶۳ مخ)

یعنې پر هغه چا دې د شګو په اندازه لعنت وي چې د امام صاحب قول نه مني.

اوس راشه زه تاسو ته دا ووایم چې کومو ښاغلو د امام صاحب قول نه دی منلی چې اوس شپه او ورځ احناف پر هغوی لعنت وايي:

امام مالک، امام محمد، امام ابویوسف، امام شافعي، امام احمد بن حنبل، امام بخاري، امام نسائي، امام طحاوي، امام ابن حزم، امام ابن عبدالبر، امام نواوي او امام ابن تیمیة رحمهم الله تعالی علیهم اجمعین.

ketabton.com - The Digital Library



نور هم د امت ډېر لوی-لوی علماء شته چې د امام صاحب قول يې نه دی منلی، اوس نو تاسو فيصله وکړئ چې د امت پر داسې سترو علماوو لعنت ويل د احنافو ديندارې ده؟.

سره له دې چې رسول اکرم ﷺ ويلي چې کله زما په امت کې پنځلس خويونه موجود شي، نو پر هغوی به د الله ﷻ عذاب نازل شي، په هغوی کې يو هم (اذالعن اخرهذه الامة اولها.) (ترمذي حديث نمبر ۲۲۱۰، ابن ماجه) يعنې کله چې د دې امت وروستني پر مخکنيو لعنت ووايي.

يو بل ځای رسول اکرم ﷺ وايي:

من لعن مومنافهو كقتله. (بخاري، كتاب الادب، باب ۴۴، حديث نمبر ۶۰۴۷)

يعنې پر مومن لعنت ويل لکه د هغه وژل داسې دي.

په نړۍ کې تر ټولو بد خلک هغه دي چې الله ﷻ د انبياوو په ژبه پرې لعنت ويلی دی. الله ﷻ پر بني اسرائيلو د داؤد او عيسی عليهما السلام په ژبه لعنت ويلی دی:

لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُودَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُواْ يَعْتَدُونَ. (المائده، ۷۸ آية)

ژباړه: په بني اسرائيلو کې پر کافرانو شويو د داؤد او عيسی عليهما السلام په ژبه لعنت ويل شوی دی، دا له دې کبله چې دوی سرکښي کړې وه او تېری به يې کاوه.

خو په څلورو مذهبونو کې دا ويار يوازې او يوازې احنافو ګټلی، ځکه په څلور سره فقهي مسلکونو کې يوازې دوی حلاله مني چې پر کوونکي او هغې ته هڅوونکي يې نبي کريم ﷺ لعنت ويلی دی.

عن ابن مسعود ﷺ قال: لعن رسول ﷺ المحلل والمحلل له. (رواه الترمذي وقال حديث حسن صحيح حديث نمبر ۱۱۲۰، ابوداؤد حديث نمبر ۲۰۷۶، ابن ماجه او دارمي)

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: له عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ پر هغه چا چې (تر درېيو طلاقونو وروسته د بل مېړمن) حلالوي او هغه چا چې دا مېړمن د ده لپاره حلالېږي، لعنت ويلی دی.

د احنافو ښېرا تر ننه يقينًا چا ته نه ده رسېدلې، خو د رسول الله ﷺ ښېرا نه ردېږي، تر قيامته به پاتې وي.

درنو لوستونکو ! دا د مقلدينو له خوا د امامانو د منلو او احترام طريقه ده.

راځئ وړاندې ځو، که د يوه ساعت لپاره ومنو چې په (فَاسْئَلُوْااَهْلَ الـذِّكْرِاُنْ كُنْـتُمْ لَاتَعْلَمُوْنَ) سره تقليد ثابتېږي، نو راځئ وګورو د دې آيت په اړه د احنافو اند څه دی؟:

فَإِن كُنتَ فِي شَكٍّ مِّمَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ فَاسْأَلِ الَّـذِينَ يَقْـرَؤُونَ الْكِتَـابَ مِـن قَبْلِـكَ لَقَـدْ جَاءكَ الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلاَ تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ. (يونس، ۹۴ آية)

ژباړه: که ته د هغه څه په اړه شک لرې چې موږ درته نازل کړي، نو له هغو کسانو سوال وکړه چې تر تا مخکې کتاب (تورات او انجيل) لولي، بېشکه تا ته حق راغلی، نو هېڅکله له شک کوونکو څخه مه کېږه.

ايا دلته به هم احناف وايي چې رسول اکرم ﷺ ته الله ﷻ د يهودو او نصاراوو د تقليد امر کړی دی؟ که داسې نه وي او يقيناً ده هم نه، نو احناف د (فاسئل) ترجمه په تقليد نه کولای شي او نه به يې وکړي.

قرآن پخپله د خپلو ځينو مضامينو ترجمه کوي، نو معلومه شوه چې دلته د (فاسئلو) معنا تحقيق دی، نه تقليد. لکه احناف او نور مقلدين چې يې دعوه کوي او د آيت دا ترجمه موږ پخپله له ځانه نه ده کړې، بلکې د آيت مخکنۍ برخه همدا وايي:

وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ إِلاَّ رِجَالاً نُّوحِي إِلَيْهِمْ فَاسْأَلُواْ أَهْلَ الـذِّكْرِ إِن كُنـتُمْ لاَ تَعْلَمُـونَ.

(النحل، ۴۳ آية)

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: موږ تر تا وړاندې نه وو لېږلي، مګر نارينه چې هغوی ته به مو وحې کوله، که په دې اړه معلومات نه لرئ نو د علم له خاوندانو پوښتنه وکړئ (يعنې تحقيق وکړئ).

که دلته د (فاسئلوا) ترجمه په تقليد وشي، نو بيا خو يې معنا دا شوه چې که تاسو د محمد ﷺ په نبوت کې شک لرئ، نو د علم د خاوندانو يعنې يهودو او نصاراوو تقليد وکړئ. حال دا چې هېڅ مفسر له دې آيته دا معنا نه ده اخيستې، آن موسی عليه السلام ته هم د قرآن کريم په شتون کې په تورات د عمل کولو اجازه نشته. **اللهم اهد قومي فانهم لايعلمون**

## د تقليد په رد کې د صحابه کرامو رضي الله عنهم ويناوې:

اوس راځئ وګورو د تقليد په اړه د صحابه کرامو رايه څه وه:

**وعن ابن مسعود رضي الله عنه قال: لايقلداحدکم دينه رجلاان آمن آمن وان کفر کفر.** (ارشاد الفحول، ۲ ټوک، ۳۵۷ مخ او اعلام الموقعين، ۲ ټوک، ۱۶۸ مخ)

ژباړه: له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې هغه وويل: په تاسو کې هېڅوک بايد د بل تقليد ونه کړي چې که هغه ايمان راوړي، دی ايمان راوړي، که هغه کافر کېږي دی هم کافر کېږي.

**وقال ابن عباس رضی الله عنهما: يوشک ان تنزل عليکم حجارة من السماء اقول: قال رسول الله ﷺ وتقولون قال ابوبکروعمر.** (زادالمعاد، ۲ ټوک، ۱۹۵ مخ)

ژباړه: عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ويلي دي: ژر ده چې پر تاسو به له اسمانه ډبرې راواوري، ځکه زه د رسول الله ﷺ خبره درته کوم او تاسو وايast ابوبکر داسې ويلي او عمر.

نن د مقلدينو حالت بالکل همداسې دی، کله چې له امامه يوه خبره نه وي نقل شوې، نو دوی هېڅکله د هغې منلو ته چمتو نه وي، همدارنګه که له امامه د حديث پر خلاف کومه خبره رانقل شوې وي، نو دوی يې په هېڅ ډول نه پرېږدي، بلکې وايي: ايا

ketabton.com - The Digital Library



زموږ امام ته دا حدیث نه و رسېدلی؟ چې هغه دا حدیث نه دی عملي کړی، نو موږ یې ولې عملي کړو !.

د دوی مطلب دا دی چې زموږ امام ته د نبي کریم ﷺ هر حدیث رسېدلی و. که یو څوک له دوی څخه پوښتنه وکړي چې ایا ستاسو امام له یو لک څلوېښت زره صحابه کرامو سره لیدلي وو؟ که وایي هو ! نو د ورځې په څېر ښکاره دروغ دي او که وایي ورسره لیدلي یې نه وو او یقیناً یې ورسره لیدلي هم نه وو، نو بیا به دا هم مني چې یقیناً ټول احادیث نه وو ورته رسېدلي.

اوس پوښتنه دا ده چې له امام مالک، امام شافعي، امام احمد بن حنبل، امام بخاري، امام مسلم او نورو محدثینو رحمة الله علیهم سره چې ستاسو د مذهب مخالف کوم حدیثونه دي، دا هغوی له ځانه جوړ کړي دي، که هغوی له امام ابو حنیفة رحمه الله سره دښمني درلوده او یا یې غوښتل د هغه پر خلاف ځان ته مذهب او ډله جوړه کړي؟

حال دا چې د صحیح حدیث په مقابل کې د صحابي قول او فعل هم حجت نه دی. دا خبره موږ له ځانه نه کوو، بلکې له ستر صحابي څخه یې واوره ! عبدالله بن عمر رضی الله عنهما د یو چا د پوښتنې په ځواب کې وایي:

**قال عبدالله بن عمر: ارأیت ان کان ابي نهی عنهاوصنعها رسول الله ﷺ آأمرابي یتبع ام امر رسول الله ﷺ؟ فقال الرجل: بل امر رسول الله! فقال: فقدصنعها رسول الله ﷺ. (رواه الترمذي، باب ماجاء في التمتع رقم الحدیث ۸۲۴)**

ژباړه: عبدالله بن عمر رضی الله عنهما (یوه سړي ته چې له ده څخه یې د حج تمتع په اړه پوښتنه کړې وه) وویل: ته راته ووایه چې که زما پلار له حج تمتع منعه کړې وي، خو رسول اکرم ﷺ کړی وي، ایا ته زما د پلار پیروي کوې، که د رسول اکرم ﷺ؟ هغه سړي وویل: نه ! د رسول اکرم ﷺ پیروي کوم، نو عبدالله بن عمر رضی الله عنهما ورته وویل: بېشکه رسول اکرم ﷺ دا کار کړی دی.

له دې څخه دا خبره څرګنده شوه چې د صحابه کرامو ﷺ په اند هم د رسول اکرم ﷺ د حدیث په مقابل کې د یو صحابي فعل او قول حجت نه دی.

ketabton.com - The Digital Library



## د تقلید په رد کې د احنافو ویناوې:

د مسلم الثبوت لیکوال لیکي:

**اذلاواجب الاماوجبه الله ولم یوجب علی احدان یتمذهب بمذهب رجل من الائمة.**
(مسلم الثبوت ۲ ټوک، ۳۵۵ مخ)

ژباړه: ځکه له هغه پرته واجب نشته چې الله ﷻ واجب کړی وي او پر هېچا لازمه نه ده چې په امامانو کې د یوه مذهب پیروي وکړي.

بیا وايي:

**اجمع المحققون علی منع العوام من تقلیدالصحابة.** (مسلم الثبوت ۲ ټوک، ۲۵۶ مخ)

ژباړه: محققینو پر دې اجماع کړې چې عوامو ته د صحابه وو د تقلید اجازه نشته.

د دوی عجیب تقسیم دی، پر ځان د امام تقلید فرض ګڼي، خو د صحابه کرامو تقلید روا نه بولي، سره له دې چې هغوی په علم، تقوا او پوهه کې تر امامانو څو چنده لوړ وو.

عوام د هغوی له تقلیده منعه کوي، دا نو د دې آیت مصداق دی: تِلْكَ اِذاً قِسْمَةٌ ضِيْزٰى. یعنې دا ډېر ظالمانه وېش دی.

ملا علي قاري حنفي لیکي:

**ان الله لم یکلف احداان یکون حنفیا او مالکیا او شافعیا او حنبلیا بل کلفهم الله ان یعلمواالسنة.** (شرح عین العلم، ۳۲۶ مخ)

ژباړه: الله ﷻ هېڅوک په دې نه دی مکلف کړی چې حنفي، مالکي، شافعي او حنبلي شي، بلکې الله ﷻ هر سړی د رسول اکرم ﷺ پر سنتو ملکف کړی دی.

ketabton.com - The Digital Library



اوس راځئ دا وګورو چې ايا پخپله امام ابوحنيفة رحمة الله عليه د خپل تقليد امر کړی دی، که نه؟ !:

**سئل ابوحنيفة اذا قلت قولا وكتاب الله يخالفه. قال اتركوا قولي بكتاب الله قال واذا قلت قولا وحديث رسول الله ﷺ يخالفه قال: اتركوا قولي بخبر الرسول.** (عقدالجيد ۴۵ مخ)

ژباړه: له امام ابوحنيفة رحمه الله څخه يو چا پوښتنه وکړه چې که ته داسې خبره وکړې چې هغه له قرآن کريم سره مخالفه وي، نو موږ څه وکړو ؟ ده وويل: د قرآن کريم په مقابل کې زما خبره پرېږدئ. له هغه څخه بيا پوښتنه وشوه چې که ستا خبره د رسول اکرم ﷺ له حديث سره مخالفه وي، بيا څه وکړو ؟ ده ځواب ورکړ: د رسول اکرم ﷺ د حديث په مقابل کې زما خبره پرېږدئ.

اوس راشئ دا وګورو چې امام ابوحنيفة رحمه الله د يو چا تقليد کاوه، که نه؟ !.

**اني لااقلدالتابعي لانهم رجال ونحن رجال ولايصح تقليدهم.** (نورالانوار، **٢١٩** مخ)

ژباړه: امام ابوحنيفة رحمه الله وايي: زه د تابعي تقليد نه کوم، ځکه دی هم يو سړی دی، زه هم. د دوی تقليد صحيح نه دی.

همدارنګه علامه شامي حنفي ليکي:

**اذا صح الحديث وكان على خلاف المذهب عمل بالحديث ويكون ذالک مذهبه ولايخرج مقلده عن كونه حنفيابالعمل به فقد صح عن ابي انه قال: اذا صح الحديث فهو مذهبي.** (شرح عقود رسم المفتي، لابن عابدين، **١٩** مخ.

ژباړه: کله چې حديث صحيح شي او د مذهب مخالف وي، نو په حديث عمل کېږي او دا د امام صاحب مذهب هم دی او په دې سره د امام صاحب مقلد له تقليده نه وزي، ځکه امام صاحب ويلي دي: کله چې حديث صحيح شي، هماغه زما مذهب دی.

همدارنګه وړاندې ليکي:

**فاذا ظهرله صحة مذهب غيرامامه في واقعة لم يجزله ان يقلدامامه.** (شرح عقود رسم المفتي، **٢۴** مخ)

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: که یو چا ته په یوه واقعه کې له خپل امام پرته د بل امام مذهب پر حق وبرېښي، نو ده ته روا نه ده چې د خپل امام تقلید وکړي.

د دغو ټولو خبرو او دلایلو تر لوستلو وروسته که مقلد ډاډمن نه وي، نو بیا مورږ د ده په اړه هغه خبره کوو چې علامه عبدالحي لکهنوي حنفي کړې ده:

**قدتعصبوافی الحنفیة تعصباشدیداوالتزموابمافی الفتاوا التزاماشدیداوان وجدواحدیثاصحیحاواثرا صریحاعلی خلافه وزعمواانه لوکان هذا صحیا لاخذ صاحب المذهب ولم یحکم بخلافه وهذاجهل منهم.** (النفع الکبیر، **۱۴۵** مخ)

ژباړه: د احنافو یوه ډله په سخت تعصب اخته ده او په ډېره کلکه د فتاواوو په کتابونو پورې نښتي دي، که دوی کوم صحیح حدیث او یا اثر پیدا کړي چې د دوی د مذهب مخالف وي، نو وایي: که دا حدیث صحیح وای، امام صاحب به ارومرو له دې سره سمه فتویٰ ورکولای، د هغه پر خلاف به یې پرېکړه نه کوله او دا د دوی ناپوهي ده.

## د تېرو شویو امامانو مذهب:

شاید اوس د یو چا په ذهن کې دا خیال پیدا شي چې که د تقلید په اړه د دغو سترو شخصیتونو دا نظر او فتوا وي، نو هغوی ولې تقلید کاوه؟!.

نو راشئ اوس زه دا درته ووایم چې هغوی تقلید کاوه، که نه؟ په یاد ولرئ چې کله زه وایم فلاني حنفي، یا مالکي، یا شافعي او یا حنبلي، نو د دې مطلب دا نه دی چې هغه تقلید کاوه، بلکې هر یو له خپل دلیل او اجتهاد سره سم روان و. که څوک دا پوښتنه وکړي چې بیا نو حنفي ولې بلل کېږي؟ نو ځواب یې دا دی؛ د دوی د استدلال ډول او استنباط شکل عین هغه ډول و لکه د دوی د مشرانو او استادانو، ځکه نو دوی ته حنفي ویل کېږي. دا مطلب یې نه دی چې دوی په هر څه کې تقلید کاوه.

ketabton.com - The Digital Library



مثلاً د امام ابو حنیفة رحمه الله لوی شاګردان امام ابو یوسف او امام محمد رحمهما الله وو او دوی په دې معنا حنفیان وو چې دوی په هغه مکتب کې زد کړې کړې وې، چې مشر او مؤسس یې امام ابو حنیفة رحمه الله و. په دې معنا حنفیان نه وو چې د ده تقلید یې کاوه، ځکه د مقلد لپاره په هېڅ صورت دا روا نه ده چې د خپل امام خبره رد کړي.

سره له دې چې امام ابو یوسف او امام محمد رحمه الله په درې ثلثه مسایلو کې له خپل استاد سره مخالفت کړی دی. همدارنګه د امام مالک، امام شافعي او امام احمد رحمهم الله له فکري مکتب سره تړاو درلودونکي هم دوی ته منسوببږي، خو مقلدینو یو هم نه دی معاف کړی، د هر یوه په غاړه کې یې د تقلید رسۍ وراچولې ده، آن شاګردان یې هم د خپل استاد مقلدین بللي دي. حال دا چې په هغوی کې یوه هم نه ځان حنفي، نه مالکي، نه شافعي او نه حنبلي بللی دی، او که هغه مسایل راغونډ کړل شي چې د غو شاګرانو له خپلو استادانو سره پکې مخالفت کړی، نو یو لوی کتاب ترې جوړېدای شي.

تاسو پخپله وګورئ! مقلدین چې کوم ښاغلي د حنفي یا شافعي په نوم یادوي، هغوی د خپل ځان په اړه څه لیکي؟! علامه شامي لیکي:

**الائمة الشافعیه کالقفال والشیخ ابن علي والقاضي حسین رحمهم الله کانوا یقولون لسنامقلدین للشافعي بل وافق رایناراًیه ویقال مثله في اصحاب ابي حنیفه رحمه الله مثل ابي یوسف ومحمدرحمهماالله بالاولی وقد خالفاه فی کثیرمن الفروع.** (عقود رسم المفتي، ۲۵ مخ)

ژباړه: شافعي امامانو لکه: قفال، شیخ ابن علي او قاضي حسین ویلي؛ موږ د امام شافعي رحمه الله مقلدین نه یو، بلکې زموږ رایه د هغه له رایې سره برابره شوې ده او د امام ابو حنیفة رحمه الله د اصحابو امام ابو یوسف او امام محمد رحمهما الله په اړه همدا سې ویل کېدای شي، ځکه هغوی په ډېرو مسایلو کې له امام صاحب سره مخالفت کړی دی.

همدارنګه امام طحاوي رحمه الله هم په کتاب الاثار کې د امام صاحب ډېر مسایل رد کړي دي.

ketabton.com - The Digital Library



**قال الطحاوي لابن حربويه لايقلدالاعصبي اوغبي.** (عقود رسم المفتي، **۲۶** مخ)

ژباړه: امام طحاوي ابن حربويه ته ويلي چې تقليد يا متعصب کوي او يا غبي.

همدارنګه د روح المعاني ليکوال علامه الوسي حنفي ليکي:

**ان کان للضلالة اب فالتقليدابوها.** (روح المعاني، لومړی ټوک، **۹۷** مخ)

ژباړه: که ګمراهي پلار ولري، نو تقليد يې پلار دی.

همدارنګه امام نووي شافعي رحمه الله چې په منځلاريتوب کې يوه بېلګه وه، د امام شافعي رحمه الله ډېر هغه مسايل چې د صحيحو احاديثو مخالف وو، رد کړي او صحيح احاديث يې خپل مذهب ګرځولی دی. پخپله د النووي المجموع وګورئ او ليکلي يې دي چې همدا د امام شافعي رحمه الله مذهب دی، ځکه د امام شافعي رحمه الله وينا ده: **اذا صح الحديث فهو مذهبي.** يعنې صحيح حديث زما مذهب دی.

خو د اوسنيو احنافو په اند چې څوک د امام صاحب قول پرېږدي، په صحيح حديث عمل وکړي، نو هغه له سمې لارې اوړي. د سپکو-سپورو لايق ګرځي او په دې هر څوک ښه خبر دی. پر دې سربېره لوی ظلم دا دی چې صحيح حديث په ناسمو تاويلونو د خپل مذهب تابع کوي. د ايمان غوښتنه خو دا ده چې مذهب د صحيح حديث تابع شوی وای.

رسول اکرم ﷺ وايي:

**لايؤمن احدکم حتی يکون هواه تابعالماجئت به.** (رواه البغوي في شرح السنة والنووي في اربعينه وقال هذاحديث حسن رقم الحديث **۴۱** وهو صحيح معنا)

ژباړه: په تاسو کې هېڅوک تر هغو مومن نه دی چې نفسي غوښتنې يې زما د راوړي دين تابع نه شي.

پر دې لوی جرم د احنافو سترو علماوو هم اقرار کړی چې په هغوی کې يو مولوي اشرف علي تهانوي هم دی، نوموړی ليکي:

ketabton.com - The Digital Library



ځینې مقلدین خپل امامان له تېروتنې معصوم او د هغوی پیروي فرض بولي او په دې باور دي چې که څه هم د امام صاحب قول هر څو مره د صحیح حدیث مخالف دی، دلیل یې له قیاس پرته بل شی نه دی. بیا هم په حدیث کې د ېرې نیمګړتیاوې راباسي او په ډېرو لیرو تاویلونو سره هغه حدیث ردوي، خو د امام قول نه پرېږدي. داسې تقلید حرام او د الله ﷻ د دې قول مصداق دی:

**اتخذوا احبارهم ورهبانهم اربابامن دون الله.** (فتاویٰ امدادیه، ۴ جلد، ۹۰ صفحه)

یعنې دوی خپل علماء او پوهان له الله ﷻ پرته په ربوبیت نیولي وو.

## د قران کریم او نبوي احادیثو پر خلاف د علامه کرخي حنفي له خوا د اصولو جوړول

قرآن کریم او نبوي احادیث د بېځایه تاویلونو په مټ د خپل مذهب تابع کول د احنافو اساسي اصول دي، آن ځینو حنفي علماوو ویلي: کوم آیت یا حدیث چې زموږ د مذهب مخالف وي، هغه آیت یا حدیث منسوخ دی.

وګوره ! دوی لیکي:

**ان کل آیت تخالف قول اصحابنافانهاتحمل علی النسخ اوعلی الترجیح والاولی تحمل علی التأویل من جهة التوفیق.** (اصول الکرخي، ۸ مخ)

ژباړه: هر آیت چې زموږ د مذهبي علماوو له قوله مخالف وي، هغه یا منسوخ دی یا به پر ترجیح حمل کېږي او ښه خبره دا ده چې تاویل پکې وشي، ترڅو زموږ د مذهب او آیت تر منځ توفیق راشي.

بل ځای لیکي:

**ان کل خبریجئ بخلاف قول اصحابنافانه یحمل علی النسخ اوعلی انه معارض بمثله.**

(اصول الکرخي، **۲۹** مخ)

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: هر هغه حديث چې زموږ د مذهبي علماوو د قول پر خلاف وي، هغه به يا پر نسخه او يا پر دې حمل کېږي چې په مقابل کې يې بل داسې حديث شته چې زموږ تائيد کوي.

د مکې مشرکينو هم رسول اکرم ﷺ ته عين همدا ډول اصول وړاندې کړي وو او ورته ويل به يې:

د قرآن کومه برخه چې زموږ د عقايدو مخالفه ده، هغه منسوخه کړه، بيا دې خبره منو او ايمان درباندې راوړو. اعاذنا الله من مثل هذالتحريف

## پر ملائکو د تقليد تور لګول

اوس خپل اصلي بحث ته ځو چې په هغه کې ميرمحمد صاحب شيطان لومړی غيرمقلد بللی، نوموړی ليکي:

کله چې ادم ؑ د خپل وخت خليفه يا امام اعظم شو، نو ملائکو يې تقليد وکړ چې د ادم د مقلدينو په نوم مشهوره شوې او دوی لومړني مقلدين وو. په اول ځل چې چا له تقليده تېښته وکړه هغه شيطان وو، عين په همدې ډول په محمدي امت کې د امام اعظم رحمه الله له تقليده د تښتېدوونکو نوم غيرمقلدين دی چې د ابليس لعين پيروي او تقليد په خوښي خپلوي، خو د امام اعظم رحمه الله له تقليده تښتي. احناف د امام اعظم رحمه الله مقلدين دي او د ملائکو په شان د خپل ستر امام په تقليد وياړي. د نوموړي د خبرې خلاصه دا شوه چې د امام اعظم تقليد نه کوونکی يا شيطان او يا د هغه يار دی، خو څوک چې د هغه تقليد کوي، هغه يا فرشته او يا د هغوی پر لار روان دی.

ځواب: لومړی خبره دا ده چې تا ادم ؑ خليفه يا امام اعظم بللی، نو ته يو ځل دا ووايه چې خليفه څه ته وايي؟!.

الخليفه: الامام الذي ليس فوقه امام. يعنې خليفه هغه امام ته وايي چې تر ده پورته بل امام نه وي، نو تا په کوم دليل امام ابوحنيفة رحمه الله امام اعظم کړ؟ ايا د هغه په حق

ketabton.com - The Digital Library



کې کوم قرآني آيت نازل شوی دی چې دی امام اعظم دی؟ لکه ابراهيم ﷺ ته چې الله ﷻ ويلي دي:

**قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا.** (البقرة، ۱۲۴ آية)

يعنې الله ﷻ وويل: زه تا خلکو ته امام ټاکم.

اوس چې تا ابوحنيفة رحمه الله لوی امام کړ، نو څرګنده شوه چې ته د ادم ﷺ امامت نه منې او په دې سره ته د ابليس ملګری او غيرمقلد شوې.

نوموړي عالم بيا ليکلي چې فرشتو د ادم ﷺ تقليد وکړ او د ادم ﷺ د مقلدينو په نوم مشهورې شوې. حيراني ده، دعوه خو د فاضل او حکيم کوې، خو دومره ستره تېروتنه دې کړې چې د علم او پوهې جنازه دې ښخه کړې ده. ته په دې هم خبر نه يې چې الله ﷻ ادم ﷺ د ځمکې لپاره د خليفه په حيث رالېږلی و، نه د اسمان لپاره؛ چې ملائکې هم د دوی په تقليد او اطاعت مکلفې وې. داسې معلومېږي چې ته د قرآن کريم په تفسير هم خبر نه يې، نو دې آيت ته وګوره !:

**إِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً.** (البقرة، ۳۰ آية)

يعنې هغه وخت درياد کړه چې ستا رب ملائکو ته وويل: زه په ځمکه کې خليفه پيدا کوم.

د تفسير جلالين ليکوال د دې آيت په تفسير کې ليکي: **يخلفني في تنفيذاحکامي فيهاوهو آدم.** (تفسير جلالين، ۸ مخ)

يعنې دی به په ځمکه کې د احکامو په پلي کولو کې زما خليفه وي او هغه ادم ﷺ دی.

بله خبره دا ده چې تا ادم ﷺ د ملائکو امام بللی، سره له دې چې ادم ﷺ د فرشتو امام نه و، لکه په پورتني آيت سره چې ثابته شوه. فرشتو چې ادم ﷺ ته کومه سجده کړې وه، هغه د الله ﷻ په امر وه؛ نه د ادم ﷺ په امر. ته د تقليد په نشه کې دومره بې سده

ketabton.com - The Digital Library



شوی يې چې د فرشتو په غاړه کې دې هم د تقليد رسۍ وراچولې ده او وړاندې دې موسیٰ عليه السلام د خضر عليه السلام مقلد بللی دی. يعنې فرشتې هم مقلدې دي، انبياء کرام هم، خو امام يوازې ابوحنيفة رحمه الله دی.

د حيرانتيا ځای خو دا دی چې کله يو څوک امام ابوحنيفة رحمه الله ته مقلد ووايي، نو پر تاسو بده لګېږي، خو پخپله مو له فرشتو نيولې تر انبياوو ټول مقلدين کړي دي.

او بيا دې وړاندې ليکلي چې فرشتې لومړنۍ مقلدينې شوې، نو پوښتنه دا ده چې ملائکې چا د آدم عليه السلام مقلدينې وبللې، تاسو ؛ که الله جل جلاله او يا رسول اکرم صلی الله عليه وسلم؟ که تاسو ياست، نو ستاسو خبره خو هېڅا ته حجت نه ده، ځکه نو موږ هغه څه درته وايو چې الله جل جلاله يې امر راته کړی دی:

قُلْ هَاتُواْ بُرْهَانَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ. (البقرة، ۱۱۱ آية)

يعنې که تاسو رښتيا وايا ست، نو دليل مو راوړئ.

بيا مو ويلي چې له دې تقليده تښتېدونکی ابليس و، نو زه وايم آدم عليه السلام شيطان ته هېڅ حکم نه و کړی چې ده يې اطاعت کړی وای او دا ستاسو علمي خيانت دی چې واياست: ابليس د آدم عليه السلام له اطاعته تښتېدی، بلکې ابليس د الله جل جلاله له اطاعته تښتېدلی و.

قرآن کريم وګوره؛ نو به درته څرګنده شي چې ستا خبره تر کومه ځايه کره ده؟! الله جل جلاله خو وايي: (ففسق عن امرربه) يعنې شيطان د خپل رب د امر له منلو سرغړونه وکړه. او که ستا دعوه دا وي چې يو چا ته سجده کول د هغه تقليد او اطاعت وي، نو دا دعوه دې هم بېځايه ده، ځکه د يوسف عليه السلام په اړه ويل شوي: (وخروا له سجدا ) يعنې يوسف عليه السلام ته د هغه مورو پلار او ورونو ټولو سجده وکړه، خو له دې سره-سره هېڅا نه دي ويلي چې يعقوب عليه السلام له خپلو زامنو سره يو ځای د يوسف عليه السلام مقلد و. **فافهم ولاتکن من الغافلين الضالين**

ketabton.com - The Digital Library



## د میرمحمد له خوا شیطان لومړی غیرمقلد بلل

نوموړي لیکي چې په تاریخ کې شیطان لومړنی غیرمقلد و. دی خپله دا ادعا داسې بیانوي:

باید پوه شې چې شیطان لومړنی شخص و چې په ډاګه یې د نه تقلید لار خپله کړه او هغه له دې امله چې د الله ﷻ حکم یې و نه مانه او د خپلو نفسي غوښتنو پیروي یې وکړه.

راشئ قرآن کریم ته غوړ شو چې هغه څه وایي؛ ایا هغه د الله ﷻ اطاعت وکړ او که یې د خپلو نفسي غوښتنو تقلید؟!

الله ﷻ وایي: (فَفَسَقَ عَنْ اَمْرِرَبِّهٖ) یعنې شیطان د خپل رب له امره سرغړونه وکړه.

معلومه شوه چې شیطان د خپل رب په نه اطاعت کولو ګمراه شوی، بلکې تر هر چا لوی ګمراه دی.

بل ځای الله ﷻ وایي:

وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ اِتَّبَعَ هَوَاهُ بِغَيْرِهُدًى مِّنَ اللهِ.

ژباړه: څوک تر هغه چا ډېر بې لارې یا ګمراه دی چې له الٰهي هدایت پرته یې د خپلو نفسي غوښتنو پیروي کړې وي؟!.

بل ځای الله ﷻ وایي:

أَفَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَهَهُ هَوَاهُ وَأَضَلَّهُ اللَّهُ عَلَى عِلْمٍ.

یعنې تا هغه سړی و نه لید چې خپل خواهش یې الله وګرزاوه او الله ﷻ له پوهې سره-سره بې لارې کړ.

له دغو دلایلو څخه موږ ته د ورځې په څېر جوته شوه چې شیطان لومړی کس و چې د خپلو نفسي غوښتنو پیروي یې وکړه، د هغو مقلد شو او په عامه توګه د یوه ړانده مقلد په توګه راڅرګند شو.

ketabton.com - The Digital Library



احنافو ته هم موږ هغه نصيحت کوو ، چې الله ﷻ ټول انسانيت ته کړی دی او هغه دا چې:

اتَّبِعُواْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ وَلاَ تَتَّبِعُواْ مِن دُونِهِ أَوْلِيَاء قَلِيلاً مَّا تَذَكَّرُونَ. (الاعراف، ۳ آية)

ژباړه: د هغه څه پيروي وکړئ چې ستاسو د رب له خوا در ته نازل کړل شوي، له هغه پرته د نورو وليانو پيروي مه کوئ، په تاسو کې پند اخيستونکي ډېر کم دي.

بل ځای الله ﷻ وايي:

وَمَااخْتَلَفْتُمْ فِيْهِ مِنْ شَئٍ فَحُكْمُهُ اِلَى اللهِ. (الشورىٰ، ۱۰ آية)

ژباړه: په کوم شي کې چې تاسو اختلاف کړی، د هغه فيصله الله ﷻ ته وسپارئ !.

بل ځای الله ﷻ وايي:

وَلاَ تَتَّبِعُواْ أَهْوَاء قَوْمٍ قَدْ ضَلُّواْ مِن قَبْلُ وَأَضَلُّواْ كَثِيرًا وَضَلُّواْ عَن سَوَاء السَّبِيلِ.

(المائدة، ۷۷ آية)

ژباړه: د هغه قوم پيروي مه کوئ چې وړاندې بې لارې شوی، نور يې هم ډېر بې لارې کړي او له سمې لارې اوښتي دي.

بل ځای الله ﷻ فرمايي:

وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءهُم بَعْدَ الَّذِي جَاءكَ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ اللّهِ مِن وَلِيٍّ وَلاَ نَصِيرٍ.

(البقرة، ۱۲۰ آية)

ژباړه: که دې وروسته تر هغه چې علم درکول شو ، د دوی د هوا پيروي وکړه، نو نه الله ستا دوست او نه مرستندوی دی.

دا خبره خو د ورځې په څېر څرګنده وه چې ادم ؑ ته سجده کول د الله ﷻ امر و ، خو ده له دې سره-سره هغه ونه مانه او د خپلې نفسي غوښتنې پيروي يې وکړه.

ketabton.com - The Digital Library



ميرمحمد صاحب وايي مقلدين د ملائكو او غيرمقلدين د شيطان په څېر دي.
اوس تاسو ووايا ست چې ايا مقلدين د ملائكو په څېر دي، که د هغه شيطان په څېر چې تر هر څه وړاندې يې د خپل نفس تقليد وکړ؟!.

ميرمحمد صاحب وړاندې ليکي: غيرمقلدين د شيطان تقليد په خوشحالي کوي، خو د امام اعظم رحمه الله له تقليده تښتي.

زه وايم مقلدين په ډېري خوشحالي د شيطان تقليد کوي، خو د هغه چا له تقليده تښتي چې الله ﷻ د ټول امت امام اعظم، بلکې امام الانبياء ګرځولی دی. د هغه د پيروي امر يې کړی او د دې شاهدي پخپله قرآن ورکړې ده:

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا. (لقمان، ۲۱ آية)

ژباړه: کله چې دوی (کفارو) ته وويل شي؛ هغه څه ته راشئ چې الله نازل کړي، دوی وايي موږ د هغه څه پيروي کوو چې پلرونه مو پرې موندلي دي.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْاْ إِلَى مَا أَنزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ قَالُواْ حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءنَا.

(المائدة، ۱۰۴ آية)

ژباړه: کله چې دوی ته وويل شي چې د الله ﷻ نازل کړي (کتاب) او د رسول (احاديثو) ته راشئ، دوی وويل: موږ ته هغه څه کافي دي چې خپل پلرونه مو پرې پيدا کړي دي.

نو راشئ موږ له الله ﷻ څخه سوال کوو چې څوک ستا د نبي پرېکړه نه مني، د امام په قول پورې نښتی وي، ستا په احاديثو تر هغو عمل نه کوي چې د امام ابوحنيفة رحمه الله تاپه نه وي پرې لګېدلې او د هغه له رايې سره موافق نه وي، نو ايا دا سړی د رسول الله ﷺ پيروي کوي، که د شيطان؟.

الله ﷻ وايي:

فَاِنْ لَمْ يَسْتَجِيْبُوْالَکَ فَاعْلَمْ اَنَّمَايَتَّبِعُوْنَ اَهْوَائَهُمْ. (القصص، ۵۰ آية)

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: که دوی ستا خبره ونه منله، نو پوه شه چې دوی د خپلو خواهشاتو پیروي کوي.

ځرګنده شوه چې مقلدين له ډېره وخته په دې زړه ناروغي اخته دي چې هر وخت دوی قرآن او سنت ته راوبلل شي، نو دوی مخونه ترې اړوي او د خپل عمل په استدلال کې نيکه ګان او پلرونه وړاندې کوي. الله ﷻ هم موږ ته د داسې کسانو په اړه خبرداری راکړی چې که دوی د محمد ﷺ خبره ونه منله، نو باور وکړئ چې دا خلک يوازې د خپلو نفسي غوښتنو په طلب کې سرګردان او لالهاند دي.

## د مولوي عبدالغني جابروي او مولوي محمدولي درويش يوه شبهه او د هغې ځواب

مولوي عبدالغني جابروي صاحب پخپل کتاب اغراض جلالين کې د دې آيت: (خَلَقْتَنِي مِنْ نَّارٍوَّخَلَقْتَهُ مِنْ طِيْنٍ) په تشريح کې ليکي: شيطان لومړنی هغه کس و چې تقليد يې پرېښود، بيا په استفهامي ډول وايي: که هغه مقلد و، نو تاسو وواياست چې د چا مقلد و؟ نو چې د هغه مقلدوالی نه شي ثابتولای، ځرګنده شوه چې هغه غيرمقلد و!!!.

همدا دعوه مولوي محمدولي درويش صاحب پخپل کتاب (ايا د جنازې په لمانځه کې د فاتحې ويل سنت دي؟) هم کړې ده.

که څه هم د ميرمحمدصاحب د ځواب په ترڅ کې د دواړو ځواب شوی دی، خو بيا هم اړينه ګڼم چې دوی ته پخپل انداز ځواب ورکړم.

ځواب: لکه څنګه چې ستاسو دعوه ده چې شيطان لومړنی غيرمقلد و، نو زموږ دعوه دا ده چې ملائکې لومړنۍ غيرمقلدې وې. که تاسو واياست چې نه هغوی مقلدې وې، نو ووايه د چا مقلدې وې؟ نو که تاسو د ملائکو تقليد هېڅکله نه شی ثابتولای، نو ومنئ او ايمان راوړئ چې ملائکې غيرمقلدې وې او دليل يې د الله ﷻ دا قول دی: (اِنِّـیْ

ketabton.com - The Digital Library



جَاعِلٌ فِیْ الْاَرْضِ خَلِیْفَةً) ځکه په دې آیت کې الله ﷻ ویلي چې زه په ځمکه کې خلیفه پیدا کوم، داسې یې نه دي ویلي چې په آسمان کې خلیفه پیدا کو.

## د تقلید او اتباع توپیر

وړاندې تر دې چې د میرمحمد صاحب د یوې بلې هغه شبهې ځواب ورکړم چې په هغې کې یې هڅه کړې چې موسیٰ علیه السلام د خضر مقلد کړي. اړینه ګڼم چې د تقلید او اتباع تر منځ توپیر واضیح کړم.

د تقلید تعریف مو وړاندې په پوره تفصیل سره په څو پاڼو کې ذکر کړ، چې لنډ حاصل یې دا و چې له دلیل پرته د یو چا خبره منل، خو د بنوري ټاون د مدرسې استاد او مفتي نښاغلی محمدولي درویش پر ضد ولاړ دی او وایي د اتباع او تقلید تر منځ هېڅ توپیر نشته، بلکې دواړه د یوه شي دوه نومونه دي، ځکه په قرآن کریم کې د تقلید لپاره د اتباع لفظ هم کارول شوی دی، لکه چې وايي: (فَاتَّبَعُوْا اَمْرَ فِرْعَوْنَ) یعنې هغوی د فرعون د حکم اتباع وکړه، همدارنګه په یو بل ځای کې وایي: (قَالُوْا بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَیْهِ اٰبَآءَ نَا) یعنې موږ به د هغه څه پیروي کوو چې خپل پلرونه مو پرې موندلي دي. نو څرګنده شوه چې تقلید اتباع ده او هېڅ توپیر نه لري.

ځواب: لومړۍ خبره دا ده چې میرمحمد صاحب د امت ټول علماء حنفي او که غیرحنفي دي، دروغجن بللي، ځکه هغوی د تقلید او اتباع تر منځ توپیر کړی او تقلید یې غندلی دی.

یو ځل بیا د دې مضمون لومړنیو برخو ته پاملرنه وکړئ او بیا وړاندې لاړ شئ! زموږ دعوه همدا ده چې تقلید سراسر غلط کار او ضلالت دی، خو ستا د پوهاوي لپاره یو څو خبرې کوم.

ketabton.com - The Digital Library



په التوضیح والتلویح کې وایي: **فالمعرفة ادارک الجزئیات عن دلیل فخرج التقلید.** (التوضیح والتلویح، ۱۱ مخ)

یعنې په دلیل سره د جزئیاتو درک ته معرفت وایي، نو په دې سره تقلید ووت، (ځکه هلته د دلیل پېژندنه نه وي).

همدارنګه امام شافعي رحمه الله هم تقلید جهل او ناپوهي بللې او ویلي يې دي:

**وبالظن والتقلید لایحصل العلم والمعرفة.** (فقه الاکبر، ۷ مخ)

په ګمان او تقلید علم او معرفت نه حاصلېږي.

بیا وړاندې وایي: (**وذالک لایکون علما**) تقلید پوهه نه، بلکې ناپوهي ده.

همدارنګه د امام احمد بن حنبل رحمه الله وینا ده:

**لا تقلیدنی ولاتقلید مالکا ولاالشافعي ولا الاوزاعي ولاالثوري وخذمن حیث اخذوا.** (الاعلام، ۲ ټوک، ۳۲ مخ)

ژباړه: مه زما، مه د مالک، مه د شافعي، مه د اوزاعي او مه د ثوري تقلید کوه، ته هم له هغه ځایه اخذ کوه له کومه ځایه چې دوی کړی دی.

همدارنګه علامه الوسي حنفي هم تقلید ګمراهي بللې او لیکلي يې دي: **ان کان للضلالة فالتقلید ابوها.** (روح المعاني، لومړی ټوک، ۹۷ مخ)

یعنې که ګمراهۍ پلار درلودای، تقلید به يې پلار وای.

همدارازعلامه طحاوي حنفي رحمه الله لیکي: **لایقلیدالاعصبي او غبي.**

یعنې له متعصب او سخت ناپوه پرته بل څوک تقلید نه کوي. (عقودالرسم المفتي، ۲۷ مخ)

داسې ښکاري چې مفتي محمدولي صاحب په قرآن پوهنه کې تر خپلو امامانو یو قدم وړاندې تللی او یا کېدای شي دغو علماوو له غیرمقلدینو سره مینه درلوده چې له همدې امله يې تقلید غندلی دی.

ketabton.com - The Digital Library



په هر حال؛ دا خو ستاسو کورنۍ لانجه ده، موږ نه پوهېږو چې څوک رښتيني او څوک دروغجن دي؟! مګر اوس تحقيقي ځواب ته غوږ شه!

ښاغلي مفتي محمدولي ته به ووايم چې يا خو په عربي ژبه دود نه پوهېږي، يا عارفانه تجاهل کوي او يا غواړي عوام تېرباسي. ښېکله په قرآن کريم کې د تقليد لپاره د اتباع لفظ کارول شوی، له دې نو دا ولې لازمه شوه چې تقليد او اتباع يو شی دي؟

راشه وګوره په قرآن کريم کې د سمک ماهي لپاره د لحم لفظ کارول شوی دی، همدارنګه په قرآن کريم کې د مدينې (ښار) لپاره د قريه (کلي) لفظ استعمال شوی دی، نو ايا په دې سره ماهي او غوښه، ښار او کلی سره يو شول؟ نه؛ هېڅکله نه!

راشه! زه دې د عربي ژبې په ځينو داسې الفاظو خبر کړم چې په يوه وخت کې د څو معناوو لپاره استعمالېږي. ځينې وختونه خو يو لفظ د خپل ضد لپاره هم استعمالېږي. د قرء لفظ وګوره په عربي کې د حيض او طهر دواړو لپاره استعمالېږي. ايا اوس ته دا وايې چې حيض او طهر يو شی دی او د دواړو تر منځ هېڅ توپير نشته؟ همدارنګه مولیٰ لفظ په عربي کې د بادار لپاره هم استعمالېږي او د مريي لپاره هم. همدارنګه جاريۀ په عربي کې کښتۍ ته هم وايي او مينځې ته هم. همدا ډول عين په عربي کې سترګې ته هم وايي، چينې ته هم او سرو زرو ته هم.

زما په اند د مفتي صاحب د پوهېدو لپاره دا څو بېلګې بس دي. ايا اوس به هم مفتي محمدولي صاحب دا وايي چې مالک، مريی، کښتۍ، مينځه، سترګه، چينه او سره زر يو شی دي؟!.

حقيقت دا دی چې د ځای په بدلون د لفظ په معنا کې هم بدلون راځي، لکه څرنګه چې د مريي لپاره د مولا د لفظ په کارېدلو له هغه مالک او له مالکه مريی نه جوړېږي، همدارنګه د تقليد لپاره د اتباع په کارېدو تقليد د رسول اطاعت نه، بلکلې هماغه تقليد دی.

هو! دا يوه خبره شته چې د دواړو ښکاره بڼه سره ورته ده، خو په حقيقت کې د دواړو تر منځ د ځمکې او آسمان توپير دی. لکه څنګه چې د اوبو او بولو ښکاره بڼه يوه

ketabton.com - The Digital Library



ده، خو په حقیقت کې یو پاک او بل ناپاک دی. له همدې امله ټولو امامانو رحمهم الله له دې ناپاکۍ څخه د ځان پر ژغورنه ډېر ټینګار کړی دی. راشه وګوره! په دې دعوه کې یوازې زه نه یم، بلکې ډېرو مخکنیو علماوو هم د تقلید او اتباع تر منځ توپیر کړی دی.

د (التقلید واحکامه) کتاب لیکوال سعد بن عبد العزیز الشثري لیکي:

**التقلیدالتزام المکلف مذهب غیره بلاحجة. اماالاتباع فهوماثبت علیه حجة. وممن قال بذالک ابن خویذ منداد، وابن عبدالبر، وابن القیم، والشاطبي وغیرهم. (جامع بیان العلم، ۲ ټوک، ۱۴۳۲ مخ. الاعتصام ۳۴۲ مخ. اعلام الموقعین، ۲ ټوک، ۱۸۲ مخ)**

ژباړه: تقلید پر ځان له دلیل پرته د یو چا د مذهب التزام دی. اتباع د هغه څه نوم دی چې دلیل ولري دا توپیر ابن خویذمنداد، ابن عبد البر، ابن القیم، امام شاطبي او نورو بیان کړی دی.

همدارنګه امام ابن عبد البر رحمه الله پر دې د امت د علماوو اجماع نقل کړې او وایي:

**اجمع الناس علی ان المقلدلیس معدودا من اهل العلم وان العلم معرفة الحق بدلیله، فان الناس لایختلفون ان العلم هوالمعرفة الحاصلة عن الدلیل واما بدون الدلیل فانما هو التقلید. (اعلام الموقعین، لومړی ټوک، ۱۷ مخ. مختصرجامع بیان العلم وفضله باب فسادالتقلید ونفیه، ۲۹۲-۳۰۴ مخونه)**

ژباړه: خلکو پر دې اتفاق کړی چې مقلد د علماوو په ډله کې نه شي شمېرل کېدای، ځکه علم هغه دی چې حق په دلیل سره وپېژندل شي، له همدې امله خلکو په دې کې هېڅ اختلاف نه دی کړی چې علم هغه معرفت دی چې له دلیله حاصل شي او له دلیل پرته هغه تقلید دی.

همدا وجه ده چې تر ننه هېچا د رسول اکرم ﷺ د اتباع تعریف په تقلید سره نه دی کړی. که مو باور نه کېږي نو د هر مفسر تفسیر، په عربي وي؛ که په بله ژبه، د مقلد وي، که د غیرمقلد، درواخلئ او وګورئ چې هېچا هم د اتباع لفظ؛ چې له رسول سره

ketabton.com - The Digital Library



استعمال شوی وي، په تقلید سره نه دی ترجمه کړی. ځکه اتباع یوازې په رسول پورې خاصه ده او له هغه پرته د بل چا پیروي تقلید دی.

## د میرصاحب له لوري موسیٰ علیه السلام د خضر علیه السلام مقلد ګڼل

دی لیکي: کله چې د الله جل جلاله په امر موسیٰ علیه السلام خضر علیه السلام ته ورغی، نو د مقلدانه ادابو په پرځای کولو یې وویل:

هَلْ اَتَّبِعُکَ عَلٰی اَنْ تُعَلِّمَنِيْ مِمَّاعَلِمْتَ رُشْداً.

نو موږ یې ترجمه داسې کوي: ایا زه په دې شرط ستا تقلید کولای شم چې ته ما ته له خپل علمه یو څه رشد او هدایت وښیې؟.

ځواب: ښاغلی میرمحمد صاحب ستاسو د عبارت لومړنۍ برخه له دویمې سره ټکر ده. تاسو وویل چې موسیٰ علیه السلام د الله جل جلاله په امر د خضر علیه السلام حضور ته ورغی، نو ثابته شوه چې د هغه حضور ته د موسیٰ علیه السلام ورتګ د الله جل جلاله په امرو، او تاسو باید پوه شئ چې د الله جل جلاله په امر کوم کار کېږي، هغه اتباع وي، نه تقلید. تاسو چې په خپلو الفاظو کې د مقلدانه ادابو د پرځای کولو خبره کړې، دا صرف ضد او عناد دی.

وړاندې په تلو یې د مقلد او متبع دواړه الفاظ کارولي دي، ځکه ده ته معلومه ده چې نبي متبع وي، نه مقلد. نو د دې لپاره چې څوک نیوکه وړباندې ونه کړي، نو له همدې وجې یې د متبع لفظ ذکر کړی دی.

او له دې آیت څخه: هَلْ اَتَّبِعُکَ عَلٰی اَنْ تُعَلِّمَنِيْ مِمَّاعَلِمْتَ رُشْداً. مقلدانه اداب نه، بلکې د زدکړې اداب ثابتېږي او آیت پخپله هم پر دې معنیٰ دلالت کوي.

د دې آیت په اړه ډېر مفسرین همدا وایي چې د موسیٰ علیه السلام دا سفر د زدکړې لپاره و، نه د تقلید لپاره، او تا ته همدا اوس-اوس څرګنده شوه چې تقلید او علم دوه متضاد شیان دي.

ketabton.com - The Digital Library



د حیرانتیا خبره خو دا ده چې کوم آیت الله ﷻ په قرآن کریم کې د علم د ارزښت لپاره ذکر کړی، له هماغه آیته میرمحمد صاحب د تقلید ثابتولو ناکامه هڅه کړې ده.

حقیقت دا دی چې ښاغلي میرمحمد صاحب د قرآن کریم په الفاظو کې لاسوهنه نه شوای کولای، نو یې په تفسیر کې لاسوهنه وکړه. د داسې کسانو په اړه الله ﷻ وایي:

**وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُونَ كَلاَمَ اللّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُ مِن بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمْ يَعْلَمُونَ.**

(البقرة، ۵۷ آیة)

ژباړه: د دوی یوه ډله داسې ده چې د الله ﷻ کلام اوري، وروسته تر هغه چې پرې پوه شي، تحریف پکې کوي او دوی پوهېږي.

وروسته لیکي: په دې سره خضر علیه السلام موسی علیه السلام ته وویل د تقلید او اتباع لار ډېره ستونزمنه ده، ته به تنګ پرې ونه کړای شې او د همت په بایللو به د تقلید اداب له لاسه ورکړې او ورته ویې ویل: (انک لن تستطع معی صبرا ) یعنې ته زما سره د صبر کولو توان نه لرې.

ځواب: درنو لوستونکو ! تاسو په قرآن کریم کې د میرمحمد صاحب څرګنده لاسوهنه ولیده. اوس موږ له ده څخه پوښتنه کوو چې ده خضر علیه السلام ته کومې خبرې منسوبې کړې، هغه د قرآن کریم په کوم آیت کې شته، په کوم حدیث کې راغلې دي او که خضر علیه السلام په خوب کې درته ویلې دي؟ موږ خو وړاندې داسې فکر کاوه چې مقلدین یوازې په امام ابوحنیفة رحمه الله پسې دروغ وایي، په دې خبر نه وو چې مقلدین په تعصب کې پر انبیاء کرامو او اولیاوو هم دروغ تړي. فلعنة الله علی الکاذبین

سره له دې چې د خضر علیه السلام له خوا موسی علیه السلام ته د (انک لن تستطع معی صبرا ) ویلو سبب پخپله په قرآن کریم کې موجود دی. هغه دا چې په وړاندې تلو به خضر علیه السلام کوم کارونه کوي، هغه ټول د ظاهري شریعت مخالف دي او یو رسول څنګه کولای شي چې د شریعت مخالف کار وزغمي؟ له همدې وجې خضر علیه السلام وړاندې لا هغه ته خبرداری ورکړی و، چې ته به زما پر هغو کړنو چې د شریعت مخالفې وي، صبر کوې. دا د هماغې

ketabton.com - The Digital Library



کیسې حقیقت دی چې میرمحمد صاحب د تقلید جامه وراغوستې وه. د زیات تفصیل لپاره تفسیر ابن کثیر، ۳ ټوک، ۱۵۲ مخ، تفسیر قرطبي له ۱۳ څخه تر ۲۸ پورې، تفسیر فتح القدیر، ۳ ټوک، له ۴۲۵ څخه تر ۴۳۷ پورې، او تفسیر المنیر، ۸ ټوک، ۲۸۹ مخ وګورئ)

وړاندې لیکي:

فَلاَ تَسْأَلْنِي عَن شَيْءٍ حَتَّى أُحْدِثَ لَکَ مِنْهُ ذِكْرًا.

یعنې ته تر هغو زما څخه د هېڅ شي پوښتنه مه کوه، څو چې زه پخپله درته ونه وایم.

د امام د تقلید معنی همدا ده چې مقلد له هغه څخه د هېڅ شي پوښتنه نه شي کولای.

ځواب: ښاغلیه ! په دې آیت کې دا څرنګه ثابته شوه چې د دلیل مطالبه نشته؟ هو ! دا ثابته شوه چې د دلیل په غوښتنه کې بیړه په کار نه ده، لکه د (حتی احدث) لفظ چې همدا معنا افاده کوي. دا سې ښکاري چې د تقلید پټۍ دې پر سترګو دا سې غوړېدلې چې د قرآن په هر ځای کې تقلید درته ښکاري، له دې پرته بل څه نه وینې.

ښاغلی میرمحمد ! د موسیٰ علیه السلام دا واقعه ستا د مذهب مخالفه او زموږ تائید دی. ته لږ قرآن کریم په غور ولوله ! او دا خبره له هېڅ عالمه پټه نه ده چې موسیٰ علیه السلام په هر ځای کې له خضر علیه السلام څخه د دلیل غوښتنه کړې ده چې تا دا کار ولې وکړ؟ سورة کهف لږ په دقت ولوله ! له دې واقعې څخه موږ دا درس تر لاسه کوو چې که هر کار د شریعت مخالف ولیدل شي، نو دلیل وغواړئ. بلکې قرآن کریم موږ په ټینګه همدې دریځ ته هڅوي. لکه چې وایي: وَلاَ تَقْفُ مَا لَيْسَ لَکَ بِهِ عِلْمٌ. یعنې د هغه څه پیروي مه کوه چې په اړه یې علم نه لرې. بل ځای الله جل جلاله وایي: قُلْ هَـذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللّهِ عَلَى بَصِيرَةٍ أَنَاْ وَمَنِ اتَّبَعَنِي. (یوسف، ۱۰۸ آیة)

ژباړه: ورته ووایه ! دا زما لار ده، زه او زما پیروان په پوهه الله ته بلنه کوو.

ketabton.com - The Digital Library



ښاغلی میرمحمد صاحب! قرآن کریم خو وايي د دين هېڅ کار له دليل پرته مه کوئ! او دا کار يوازې د نبي او مجتهد نه دی، بلکې د هر هغه چا دی چې د نبي د پيروي دعوه کوي، ځکه په قرآن کريم کې د (من اتبعني) الفاظ راغلي چې وايي: هر څوک چې د نبي پيروي کوي، د هغه دنده دا ده چې په پوهه او بصيرت سره کار کوي. په ړندو سترګو پر مخ نه ځي، بلکې په دنيا کې چې هر انسان د دين کوم کار کوي، له هغه څخه د دليل غوښتنه د قرآن کريم حکم دی.

الله ﷻ ويلي دي:

قُلْ هَاتُواْ بُرْهَانَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ.

يعنې ورته ووايه که تاسو رښتيني ياست؛ دليل مو راوړئ.

درنو لوستونکو! اوس تاسو پخپله پرېکړه وکړئ چې د قرآن کريم امر ومنو، که د ميرمحمد صاحب؟! ميرمحمد صاحب خو وايي تقليد وکړئ، دليل مه غواړئ او د الله ﷻ وينا ده چې له دليل پرته عمل مه کوئ! دا سې ښکاري چې ميرمحمد صاحب له الله ﷻ سره جګړه کوي. د الهي قوانينو ردولو او خپلو کرغېړنو اصولو پلي کولو ته يې ملا تړلې ده.

## د اعتبار له لفظ څخه د قياس معنا اخيستل

ووجوب الاعتبار ای القياس حکم مع انه ليس من افعال الجوارح. (التوضيح والتلويح، ۳۲ مخ)

ژباړه: د اعتبار (قياس) وجوب د الله ﷻ امر دی، خو سره له دې هغه د بدن د غړو فعل نه دی.

ketabton.com - The Digital Library



د احنافو دعوه دا ده چې الله ﷻ ویلي دي: (فاعتبروا یا اولی الابصار) یعنې قیاس وکړئ، نو له دې آیت څخه معلومه شوه چې قیاس فرض دی. (اصول البزدوي، **۲۵۰** مخ. نورالانوار، **۲۲۴** مخ)

اوس راشئ وګورو چې د احنافو دا دعوه تر کومه ځایه رښتینې ده؟ په سورة المؤمنون کې الله ﷻ فرمایي:

**وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً.** (مؤمنون، ۲۱ آیة)

یعنې ستاسو لپاره په څارویو کې عبرت دی.

که د احنافو له قانون سره سم دلته د عبرت معنا په قیاس وشي، نو مطلب دا شو چې ستاسو لپاره په څارویو کې قیاس دی.

معنا یې دا شوه چې څاروي څه کوي، تاسو هم هغه کوئ. نه په خوراک او څښاک کې څه بندیز شته؛ څه چې مو زړه غواړي هغه کوئ او نه په واده او نکاح کې، څرنګه چې مو زړه غواړي نکاوې کوئ. په څه ډول چې له حیواناتو سره څه حساب او کتاب نه کېږي، همدارنګه له تاسو سره هم نه کېږي. زما په اند هېڅ حنفي په دې قیاس عمل نه کوي. په همدې سورة نور کې الله ﷻ وایي:

**يُقَلِّبُ اللَّهُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَعِبْرَةً لِأُولِي الْأَبْصَارِ.** (النور، **۴۴** آیة)

ژباړه: الله ﷻ شپه او ورځ اړوي-رااړوي بېشکه په دې کې د عقل د خاوندانو لپاره عبرت دی.

احناف به دلته قیاس پر چا کوي؟ یقیناً پر شي یې هم نه شي کولای، که یې کوي، نو هم به پر الله ﷻ دروغ وایي. اعاذنا الله من الافتراء علیه

په سورة یوسف کې الهي وینا ده:

**لَقَدْ كَانَ فِيْ قَصَصِهِمْ عِبْرَةٌ لِّأُوْلِى الْأَلْبَابِ.** (یوسف، **۱۱۱** آیة) یعنې د دوی په کیسو کې د عقل د خاوندانو لپاره عبرت دی.

ketabton.com - The Digital Library



که دلته هم د عبرت له لفظه د قياس معنا واخيستل شي، نو مطلب دا شو چې لکه څنګه چې د يوسف علیه السلام ورونو خپل کشر ورور ځاه ته وغورځاوه، تاسې هم له خپلو کشرانو ورونو سره همدا چلند کوئ او لکه څنګه چې هغوی خپل ورور خرڅ کړ، تاسې هم خپل ورور خرڅ کړئ، خو احناف په دې قياس هم عمل نه کوي.

علامه ابن حزم الاندلسي رحمة الله عليه ليکي:

**فلم يستح هولاء القوم ان يسموا القياس اعتبارا.** (الاحکام فی اصول الاحکام، ۲ ټوک، ۳۸۷ مخ)

يعنې دا خلک په دې شرمېږي هم نه چې پر قياس د اعتبار نوم ږدي. اِنْ تَعْجَبْ فَعَجَبٌ قَوْلُهُمْ.

حيرانوونکې خبره خو لا دا ده چې وايي:

**لوعمل بالحديث لانسدباب الرأئ.** (نورالانوار، ۱۷۹ مخ)

يعنې که (د غيرفقيه صحابي) په حديث عمل وشي، نو د رايې دروازه به بنده شي.

علامه ابن حزم الاندلسي رحمه الله ليکي:

**ولاعلم احدقط فی اللغة التي بهانزل القرآن ان الاعتبار هوالقياس.** (الاحکام فی اصول الاحکام، ۲ ټوک، ۳۸۷ مخ)

يعنې په کومه ژبه چې قرآن کريم نازل شوی؛ هېچا د اعتبار له لفظه د قياس معنا نه ده اخيستې.

الله جل جلاله مور ته د دې لويو آسمانانو او ځمکو په جوړولو کې پر خپل ستر ځواک او ده چې له خپلو دښمنانو سره څه معامله کړې پر هغوی د فکر او تدبر امر کړی دی، څو مور پوه شو چې الله جل جلاله پر هر څه قادر دی او ټولې چارې په يوازې ډول پر مخ وړي. څوک چې لږ عقل او شعور ولري؛ هغه په دې پوهېږي چې د عبرت د لفظ معنا قياس نه ده، ځکه په دې سره قرآن کريم ته د دروغو نسبت کېږي، له دې کبله چې يو ځای هم د عبرت لفظ د قياس په معنا نه دی استعمال شوی.

ketabton.com - The Digital Library



## د قیاس بنسټ چا کېښېښود؟

زموږ دعوه دا ده چې قیاس شریعت نه، بلکې د الله ﷻ پر نازل کړي شریعت یو تور داغ دی، ځکه په قیاس حلت او حرمت نه ثابتېږي. احناف وايي دوی قیاس د حکم مثبت نه، بلکې د حکم مظهر ګڼي، یعنې قیاس پر یو شي حکم نه شي کولای، کوم شی چې پټ وي هغه څرګندوي.

موږ وایو دا هسې یوه دعوه ده. چیچل د فیل په غاښو کوي، ښکاروي بل څه. که قیاس حکم څرګندولای، ثابتولای یې نه، نو بیا ولې سره مختلف کېدل؟ ځکه حکم خو یو وي، نه دوه او موږ وینو چې پر یوه شي څلور-پنځه حکمونه لګول کېږي. په دې سره ثابته شوه چې قیاس مثبت دی، نه مظهر او په دې خبره ښه سر خلاص کړئ چې پر یو شي د حلال او حرام حکم کول دا یوازې د الله ﷻ کار دی. مقربه ملائکه او رالېږل شوی نبي هم د دې واک او اختیار نه لري چې له خپل ځانه یو شي ته حلال او یا حرام ووايي. مجتهد خو ښېخي دا کار نه شي کولای. مطلب د حلت او حرمت حق نه کوم نبي ته شته، لکه الله ﷻ چې وايي:

**يَاأَيُّهَاالنَّبِيُّ لِمَ تحَرِّمُ مَاأَحَلَ اللهِ لَکَ.**

یعنې اې نبي ! ولې هغه څه حراموې چې الله ﷻ درته حلال کړي د ؟ !.

او نه کوم مجتهد ته، لکه الله ﷻ چې فرمایي:

**وَلاَ تَقُولُواْ لِمَا تَصِفُ أَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ هَـذَا حَـلاَلٌ وَهَـذَا حَرَامٌ لِّتَفْتَرُواْ عَلَى اللّهِ الْكَذِبَ.** (النحل، ۱۱٦ آیة)

ژباړه: یو شي ته پخپله خوله مه وایاست چې دا حلال او دا حرام دی، څو پر الله دروغ وتړئ.

ketabton.com - The Digital Library



چا چې د قیاس په وسیله یو شی حلال او یا حرام ګرځولی، هغه ګواکې پر الله دروغ تړلي دي، ځکه د قیاس کولو معنا دا ده چې د دې شي حکم الله ﷻ نه دی نازل کړی، موږ دا حکم پرې کړی دی.

سره له دې چې الله ﷻ وايي:

اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ.

يعنې نن مې ستاسو دين درته پوره کړ.

حتی الله ﷻ خپل ګران نبي ته هم د قیاس کولو اجازه نه ده ورکړې، بلکې ويلي يې دي:

وَاَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَااَنْزَلَ اللهُ.

يعنې د دوی پخپلمنځي چارو کې په هغه څه پرېکړه کوه چې د الله ﷻ له خوا درته نازل شوي دي.

همدارنګه الله ﷻ فرمايي:

وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ فَأُوْلَـئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ. (المائدة، ۴۴ آية)

ژباړه: چا چې په هغه څه پرېکړه ونه کړه چې الله ﷻ نازل کړي، هماغه کافران دي.

په بل آيت کې د (فأولئک هم الظالمون) الفاظ راغلي دي. په درېيم آيت کې د (فأولئک هم الفاسقون) الفاظ راغلي دي.

دا آيتونه بيا-بيا زموږ توجه دې خبرې ته راړوي چې که يو څوک له ځانه او يا د مجتهد له لوري د ناسمې فتوا پر بنسټ پر يو شي د حرام يا حلال مهر لګوي، هغه يا کافر، يا ظالم او يا فاسق دی.

د قیاس د بطلان لپاره همدا بس ده چې اهل القياس په خپل منځ کې د قياسونو په کولو سره مختلف دي چې له دې کاره الله ﷻ سخته منعه کړې ده.

وَلاَ تَكُونُواْ كَالَّذِينَ تَفَرَّقُواْ وَاخْتَلَفُواْ مِن بَعْدِ مَا جَاءهُمُ الْبَيِّنَاتُ. (آل عمران، ۱۰۵ آية)

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: لکه هغه کسان داسې مه کېږئ چې د واضحو دلایلو تر راتلو وروسته سره مختلف شول.

په قیاس کې اختلاف کول پخپله د دې خبرې دلیل دی چې قیاس شریعت نه دی، ځکه په شریعت کې اختلاف امکان نه لري، لکه الله ﷻ چې فرمايي:

أَفَلاَ يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ اللّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ اخْتِلاَفًا كَثِيرًا. (النساء، ۸۲ آية)

ژباړه: ايا دوی په قرآن کريم کې فکر نه کوي؟ که له الله ﷻ پرته د بل چا له خوا وای؛ دوی به ډېر اختلاف پکې موندلی وای.

په تقليد کې خو خبره تر اختلاف پورې محدوده نه ده، بلکې پر بېلابېلو ډلو وېشل شوي دي چې له دې کاره شريعت په کلکه منعه کړې ده. د بېلګې په ډول شوافع وايي:

د درېيو وېښتانو په مسح کولو سره د سر مسحه صحيح کېږي.

احناف وايي: که د سر درېيمه برخه مسحه نه شي، اودس نه کېږي.

خو ماليکيان بيا وايي نه؛ د لومړنيو اودس صحيح دی، نه د دويمې ډلې، بلکې تر څو چې د ټول سر مسحه ونه شي، د هغه اودس نه صحيح کېږي.

دويمه بېلګه: احناف وايي که يو څوک د الله اجل او يا الله اعظم په ويلو نيت وتړي، نو د هغه لمونځ صحيح کېږي، خو د شوافعو په اند هغه بې لمانځه دی، څو چې د الله اکبر لفظ ونه وايي، لمونځ يې صحيح نه دی.

درېيمه بېلګه: احناف وايي د هبې او تمليک په لفظ نکاح صحيح ده، سړی او ښځه د دې الفاظو په ويلو مېړه او مېرمن ګرځي. کوم اولاد چې يې وشي، هغه حلال دی او که په دواړو کې يو مړ شي، ژوندی د ميراث حق لري.

خو شوافع وايي د نکاح او تزويج له لفظ پرته نکاح نه صحيح کېږي. که دی جماع وکړي، هغه زنا ده. له دې جماع څخه چې يې کوم اولاد وشي، هغه حرام دی او که په دوی کې يو مړ شي، ژوندی د مېراث حق نه لري.

ketabton.com - The Digital Library



درنو لوستونکو ! تاسو ولیدل چې د قیاس د مالکانو په قیاسونو کې څومره د ځمکې او آسمان توپیر او اختلاف دی. په بله وینا د قیاس خاوندان دا ویل غواړي چې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ موږ ته نه د اوداسه بشپړه طریقه راښوولې، نه د لمانځه او نه د نکاح یا واده؛ چې له امله یې موږ قیاس ته اړ یو.

سره له دې چې الله ﷻ ویلي دي: (اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ) یعنې نن مې تاسو ته ستاسو دین دربشپړ کړ.

همدارنګه فرمایي:

وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَلاَ تَنَازَعُواْ فَتَفْشَلُواْ وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُواْ إِنَّ اللّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ. (آل عمران، ۴۶ آية)

ژباړه: د الله ﷻ او د هغه د رسول اطاعت کوئ، اختلاف مه کوئ، کنه بې زړه به شئ، قوت به مو له منځه لاړ شي او صبر کوئ؛ بېشکه الله ﷻ له صبرکوونکو سره دی.

همدارنګه د رسول اکرم ﷺ وینا ده:

لاتختلفوا فتختلف قلوبكم.

یعنې اختلاف مه کوئ، که نه زړونه به مو سره مختلف شي. (نسائي، ۲ ټوک، ۹۰ مخ. مستدرک حاکم، لومړی ټوک، ۷۲۵ مخ)

خو په مذهب کې پر پاتېدو او تقلید کولو اختلاف پر موږ واجب دی. اړو مړو به موږ اختلاف کوو، که څه هم څرګند آیت او یا صحیح حدیث زموږ د دریځ مخالف وي. الله ﷻ دې هدایت راته وکړي. آمین !

پورته مو ثابته کړه چې قیاس دین نه دی، ځکه قیاس نه د الله ﷻ امر دی، نه د رسول اکرم ﷺ. الله ﷻ خو موږ ته وایي:

ketabton.com - The Digital Library



فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ.

(النساء، ۵۹ آية)

ژباړه: كه مو په يو شي كې اختلاف شو، نو الله او رسول ته يې وسپارئ، كه پر الله او د اخرت پر ورځ ايمان لرئ.

دا خو ښكاره خبره ده چې قياس ته رجوع كول نه الله ﷻ ته رجوع ده او نه رسول اكرم ﷺ ته او الله ﷻ دا هم ويلي چې په وينا او كړنه كې تر الله او د هغه تر رسول مه وړاندې كېږئ:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ. (الحجرات، ۱ آية)

ژباړه: اې هغو كسانو چې دوى ايمان راوړئ، تر الله او د هغه تر رسول مه مخته كېږئ.

اساسي خبره دا ده چې رسول اكرم ﷺ هېڅكله نه پخپله قياس كړى او نه يې صحابه كرامو ته د هغه تربيه او تعليم وركړى دى، سره له دې چې الله ﷻ وايي:

وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَى (۳) إِنْ هُوَ إِلاَّ وَحْيٌ يُوحَى. (النجم، ۳-۴ آية)

ژباړه: دى له ځانه خبرې نه كوي، دا نه ده؛ مګر وحې ده چې ده ته وحې كېږي.

څوک چې وايي محمد ﷺ له ځانه خبرې كړې دي، د هغوى قول په دې آيت سره مردود دى.

بله خبره دا ده چې دا د رسول اكرم ﷺ د فرمان مخالف كار دى.

عن مالک بن انس رحمه الله يقول: الزم ماقاله رسول الله ﷺ فى حجة الوداع (امران تركتمافيكم لن تضلوا ماتمسكتم بهما كتاب الله وسنة نبيه. (اعلام الموقعين)

له امام مالک رحمه الله څخه روايت دى چې ويلي يې دي: هغه خبره ټينګه ونيسئ چې رسول الله ﷺ په حجة الوداع كې كړې وه، هغه دا چې: ما تاسو ته دوه شيان پرېښي

ketabton.com - The Digital Library



دي، که تاسو په هغوی پسې ټينګ لاس ونيسئ، هېڅکله به بېلارې نه شئ، هغه د الله ﷻ کتاب او د هغه د نبي سنت دي.

همدارنګه ابن عبدالبر پخپل کتاب جامع بيان العلم کې نقل کوي چې رسول اکرم ﷺ ويلي دي:

**لاتهلک امتي حتی تقع فی المقايس فاذا وقعت فی المقايس فقدهلکت. (مختصر جامع بيان العلم وفضله ۲۵۰)**

يعنې زما امت به تر هغو هلاک نه شي چې په قياسونو کې نه وي واقع شوی، کله چې په قياسونو کې واقع شي، نو هلاک شو.

له دې څخه د سپينې ورځې په شان جوته شوه چې د مسلمانانو مرجع صرف قرآن کريم او صحيح نبوي سنت دي، لکه الله ﷻ چې فرمايي:

فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ. (سورة النساء، **۵۹** آية)

ژباړه: که مو په يو شي کې اختلاف شو، نو الله او رسول ته يې وسپارئ، که پر الله او د اخرت پر ورځ ايمان لرئ.

ټول امت پر دې متفق دی چې د اختلاف پيدا کېدو په صورت کې قرآن او نبوي سنت ته رجوع واجبه ده، ځکه دا د قرآن کريم امر دی او ټولو مفسرينو ترې همدا معنا اخيستې ده چې د رسول اکرم ﷺ په ژوند کې ده ته رجوع اړينه وه او د ده تر وفات وروسته د ده سنت ته رجوع ضروري ده.

خو راشئ موږ مو له يوه داسې سړي سره آشنا کړو چې په اصولو او فروعو کې د احنافو مرجع دی او د هغه د کتابونو له لوستلو پرته هېڅ حنفي مفتي يا قاضي کېدای نه شي، بلکې يو ځوک تر هغو مجتهد کېدای هم نه شي چې د ده کتاب المبسوط يې نه وي ياد کړی، دا سړی د علامه سرخسي په نوم يادېږي.

ketabton.com - The Digital Library



وګورئ هغـه پـه دې آيت کـې د قيـاس ثـابتولو لپـاره څـومره څرګندده لاسوهنه يـا تحريف کړې دی. پخپل کتاب کې، چې د (اصول سرخسي) په نوم مشهور دی، ليکي:

فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ. ان المراد به القياس الصحيح والرجوع اليه عندالمنازعة، وفيـه بيـان ان الرجـوع اليـه يكـون بـامرالله وامرالرسـول ولايجـوزان يقـال المرادهوالرجـوع الـى الكتـاب والسـنة. (اصـول السرخسي ۲۱۲۹)

ژباړه: د احنافو دا لوی عالم وايي: په پورتني آيت سره ثابته شوه چې له دې څخه د مخالفت په وخت کې صحيح قياس ته رجوع کول مراد دي او په دې کې دا ويل شوي چې دا رجوع به د الله او رسول پـه امر وي او دا خبره ناسمه ده چې لـه دې څخـه مـراد قـرآن او سنت ته رجوع کول دي.

درنو لوستونکو ! دا خبره تر ځمکې او آسمان هم درنه ده چې لـه قـرآن او سـنت څخـه قياس مراد شي. دا د دوی ديند اري او الهي وېره ده چې د خپـل مـذهب د اثبـات لپـاره پـه قرآن کې له لاسوهنې هم ډډه نه کوي، خو دوی دا خبره له پامه غورځولې چې په قرآن کريم کې په لاسوهنه دوی د يهودو او نصاراوو تقليد کوي، نه د امام ابوحنيفة رحمه الله، چې په اړه يې الله ﷻ په قرآن کريم کې وايي:

يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِ وَنَسُواْ حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُواْ بِهِ. (مائده، ۱۳ آية)

ژباړه: دوی کلمې له خپله ځايـه اړوي او دوی تـه چې کـوم نصـيحت شـوی و، د هغـه لويه برخه يې هېره کړې ده.

د نسفي تفسير ليکوال ليکي چې د تحريف مطلب دا دی: (يفسـرونه بغيـر مـاانزل) يعنې د نزول خلاف به له ځانه تفسير کوي. (تفسيرالنسفي، لومړی ټوک، ۳۱۲ مخ)

راشئ اوس مـو پـه نـورو خطرنـاکو لاسـوهنو خبـر کـړم. مولـوي محمودالحسـن ديوبندي چې په شيخ الهند هم پېژندل کېږي، د خپـل کتـاب پـه (۱۰۳) مـخ کې دا آيت پـه څرګند ډول تحريف کړی، اصل آيت خو دا ډول دی:

ketabton.com - The Digital Library



فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ.

خو ښاغلي يوازې د تقليد ثابتولو لپاره د (اولى الامر) لفظ پکې زيات کړى او ليکي، له همدې کبله الله ﷻ وايي:

فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ.

خو د حيرانتيا خبره دا ده چې تر ننه هيڅ حنفي عالم پر هغه نيوکه نه ده کړې.

همدارنګه مولوي محمود الحسن ديوبندي په سنن ابي داؤد کې هم لاسوهنه کړې ده. امام ابوداؤد پخپل کتاب کې د (باب من رأئ القرأة اذالم يجهر) په نوم يو باب ايښى دى، خو شيخ الهند دا باب داسې تحريف کړى او ليکلي يې دي: (باب من كره القرأة بفاتحة الكتاب اذاجهرالامام)

د همدې تحريف د ثابتولو لپاره يو بل تحريف ته مجبور شوى او ليکلي يې دي: دا باب په يو بل ډول هم ثابت دى، (باب من ترک القرأة فيماجهرالامام). حال دا چې په نړۍ کې د ابوداؤد په بله هيڅ نسخه کې له مجتبايي پرته دا عبارت نشته. (وګورئ کتاب الردود، ۲۴۱-۲۴۲ مخونه)

همدارنګه شبلي نعماني حنفي له ايمانه د عمل بېلولو لپاره په آيت کې د (واو) پر ځاى د (فا) حرف زيات کړى دى او وايي (فا) د وروسته والي معنا ورکوي چې په دې ډول د عمل درجه تر ايمان وروسته شوه.

اصل آيت دا دى:

ومن يؤمن بالله وعمل صالحا. (الطلاق، ۱۱ آية)

يعني څوک چې پر الله ايمان راوړي او نېک عمل وکړي.

ketabton.com - The Digital Library



خو ده داسې تحريف کړی: ومن يؤمن بالله فيعمل صالحا. (وګورئ کتاب الردود ، ۲۴۸ مخ)

همدارنګه په کراچي کې ادارة القرآن والعلوم الاسلاميه هم په مصنف ابن ابي شيبه کې د تحت السرة لفظ ورزيات کړی دی، خو په دې سره تر نامه لاندې لاس نيول ثابت شي. (مصنف ان ابي شيبه، لومړی ټوک، ۳۹۰ مخ)

حال دا چې د دې ادارې تر وجود وړاندې په دنيا کې د مصنف هېڅ داسې نسخه نه وه چې دا لفظ دې پکې وای.

همدارنګه محمود الحسن ديوبندي صاحب په سنن ابي داؤد کې يو بل حديث چې په هغه کې د (عشرين ليلة) لفظ دی، ده په حاشيه کې هغه په عشرين رکعة سره بدل کړی دی، څو شل رکعته تراويح ثابتې شي، سره له دې چې تر دې وړاندې په ټولو نسخو کې د (عشرين ليلة) لفظ ثابت دی. (وګورئ کتاب الردود ، ۲۵۸ مخ) همدا د دغو بزرګانو ديندارې او تقوا ده.

کوم کسان چې په دين کې لاسوهنه او تحريف کوي، د هغوی په اړه الهي فرمان دی:

لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَلَهُمْ فِي الآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ. (المائده، ۴۱ مخ)

يعنې د دوی لپاره په دنيا کې سپکاوی او په آخرت کې ستر عذاب دی.

الله ﷻ دې موږ ټول په قرآن کريم او نبوي احاديثو کې له تحريفه وساتي. آمين !

اوس راشئ وګورئ د قياس موجد څوک دی او بنسټ يې چا اېښی دی؟ ابليس لعين ته د الله ﷻ وينا ده:

قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلاَّ تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ قَالَ أَنَاْ خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُ مِن طِينٍ.

(الاعراف، ۱۲ آية)

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: الله وویل: کله چې ما امر درته وکړ؛ څه شي د سجدې له کولو منعه کړې؟ شیطان وویل: زه تر ده غوره یم، زه دې له اوره پیدا کړی یم او دی دې له خټې پیدا کړی دی.

د دې آیت په تفسیر کې عبدالله بن مسعود ﷺ، حسن بصري او محمد بن سیرین رحمة الله علیهما وایي:

**اول من قاس ابلیس فاخطأفی القیاس فمن قاس الدین برأیه قرنه مع ابلیس.**

**(تفسیر کبیر، ۴ ټوک، ۲۹ مخ. تفسیر قرطبي، ۴ ټوک، ۱۱۰ مخ)**

ژباړه: اول قیاس ابلیس وکړ چې پکې خطا شو، نو چا چې په دین کې قیاس وکړ، الله به یې له شیطان سره ملګری کړي.

په دې ډول ابلیس قیاس وکړ، تېروتـه او د قیاس کوونکو امام شو. (د زیات تفصیل لپاره سنن دارمي باب تغیرالزمان ومایحدث فیه او د امام فخرالدین رازي تفسیر کبیر وګورئ)

ketabton.com - The Digital Library



## يوازې يو اسلام

۱- الهي وينا ده:

**إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللّهِ الإِسْلاَمُ وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِينَ أُوْتُواْ الْكِتَابَ إِلاَّ مِن بَعْدِ مَا جَاءهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ وَمَن يَكْفُرْ بِآيَاتِ اللّهِ فَإِنَّ اللّهِ سَرِيعُ الْحِسَابِ.** (آل عمران، **۱۹** آية)

ژباړه: بېشکه د الله په نزد (مقبول) دين اسلام دی، هغو کسانو چې کتاب ورکړل شوی و، تر هغه وروسته اختلاف وکړ چې علم ورکول شو پخپل منځ کې د سرکښۍ له کبله څوک چې د الله په آيتونو کافر شي، بېشکه الله چټک حساب کوونکی دی.

۲- بل ځای الله ﷻ وايي:

**وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الإِسْلاَمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ.** (آل عمران، **۸۵** آية)

ژباړه: چا چې له اسلام پرته بل دين قبول کړ، نو الله ﷻ به يې ورڅخه قبول نه کړي او دی په آخرت کې له تاوانيانو څخه دی.

۳- همدارنګه الهي فرمان دی:

**شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيَ أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنَ هُدًى لِّلنَّاسِ.** (البقرة، **۱۸۵** آية)

ژباړه: روژه هغه مياشت ده چې خلکو ته هدايت کوونکی قرآن پکې نازل شوی دی.

۴- بيا هم الهي فرمان دی:

**وَمَا اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا كَافَّةً لِّلنَّاسِ.** (الانبياء، **۱۰۷** آية)

ژباړه: ته مو ټولو خلکو ته لېږلی يې.

ketabton.com - The Digital Library



درنو لوستونکو !

۱- په پورتنيو آيتونو کې لوم‍ړني دوه آيتونه دا وايي چې اسلام يوازې يو او هماغه د الله په نزد د قبول وړ دی او څوک چې له دې پرته د بل دين په لټه دی، د هغه دين مردود دی.

۲- له دريېم آيته دا معلومېږي چې الله ﷻ د انسانانو د هدايت لپاره يوازې يو قرآن رالېږلی، نه دوه.

۳- له دريېم آيته دا معلومېږي چې الله ﷻ د ټولې نړۍ د لارښوونې لپاره محمد ﷺ د وروستي نبي په توګه رالېږلی، بل هېڅ نبي نشته. له دغو درېيو اصولو سره هېڅ مسلمان اختلاف نه لري.

درنو لوستونکو !

په ياد لرئ؛ څرنګه چې د ټولو الله، نبي او قرآن يو دی او څوک چې دوه اسلامه مني، هغه د ټولو په نزد د قرآن او احاديثو په رڼا کې کافر دی. همدارنګه الله ﷻ چې لوېديځوالو ته کوم حکم رالېږلی، هغه د ختيځوالو لپاره هم دی او کوم حکم چې د عربو لپاره وي، هغه به د عجمو لپاره هم وي. څوک چې وايي نه ! د افغانانو لپاره يو حکم او د عربو لپاره بل حکم دی، د سعوديانو لپاره يو حکم او د پاکستانيانو لپاره بل حکم دی، نو هغه ګواکې دا ويل غواړي چې الله ﷻ دوه شريعته نازل کړي دي. پر يوه يې د سختۍ حکم نازل کړی، پر بل يې د آسانۍ، يو چا ته يې يو شی حلال کړی، بل ته يې حرام کړی دی، د يو چا لپاره يې يو شی روا کړی او د بل لپاره يې ناروا کړی دی. لکه متعصب امين کاړوي حنفي چې ويلي دي: د سيمې د اختلاف په وجه د حلال او حرام، روا او ناروا په اړه اختلاف کول صحيح دي. نعوذبالله !

الله ﷻ هېڅکله داسې نه کوي، ځکه دا ډول چارې په الهي شريعت کې اختلاف ثابتوي، حال دا چې الهي شريعت له اختلافاتو پاک دی، چې قرآن کريم پخپله د دې شاهدي ورکوي.

أَفَلاَ يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ اللّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ اخْتِلاَفًا كَثِيرًا. (النساء، ۸۲ آية)

ketabton.com - The Digital Library



ایا دوی په قرآن کریم کې فکر نه کوي؟ که له الله ﷻ پرته د بل چا لـه خوا وای، دوی به ارومرو ډېر اختلاف پکې موندلی وای.

همدارنګه الله ﷻ وایي:

وَلاَ تَكُونُواْ كَالَّذِينَ تَفَرَّقُواْ وَاخْتَلَفُواْ مِن بَعْدِ مَا جَاءهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَأُوْلَـئِكَ لَهُـمْ عَـذَابٌ عَظِيمٌ. (آل عمران، ۱۰۵ آیة)

ژباړه: د هغو کسانو په څېر مه کېږئ چې د څرګندو دلایلو تر راتلو وروسته یې سره اختلاف وکړ، د همدوی لپاره لوی عذاب دی.

دلته دې څوک دا نیوکه نـه کـوي چې دا ډول اختلافات خو د صحابه کرامو ﷺ تر منځ هم وو، نـو بیـا خـو دا وعیـد د دوی لپـاره هـم دی؟ مـوږ وایـو هـېڅ صـحابي داسـې متعصب نه و چې د قرآن کریم او حدیث تر وړاندې کېدلو وروسته به هم پر خپله رایـه او نظر کلک ولاړ و، بلکې سمدستي به یې خپله رایه پرېښوده، قرآن کریم او نبوي سنت بـه یې خپل کړل، خو مقلدین د دې پر خلاف دي، بلکې د خپل نظر د ثـابتولو لپـاره پـه قـرآن کریم او نبوي سنت کې تحریف هم کوي، لکه وړاندې چې یې مثالونه تېر شول. لـه همـدې وجې صحابه کرام ﷺ په دې وعید کې داخل نه دي.

اوس راشئ دا وڅېړو چې د مقلدینو دا دعـوه تـر کومـه ځایـه سمه ده چې زمـوږ تـر منځ د حلال او حرام اختلاف نشـته، بلکـې د افضـل او غیـرافضـل اختلاف دی. تـر بیـان وروسته تاسو پخپله پرېکړه وکړئ چې دا د حلال او حرام اختلاف دی، کـه د افضـل او غیرافضل؟ په یاد لرئ چې په اسلام کې دننه د ټولو علماوو په اتفـاق یـو شـی حـلال او یـا حرام، پاک او یا ناپاک، روا او یا ناروا وي. په یوه شي کې د دواړو یو ځای کېدل امکـان نه لري. لکه امام شافعي رحمه الله چې وایي: (الاقوال کثیرة والحـق واحـد) یعنـې قولونـه ډېر دي، خو حق یو دی. اوس به د طهارة په مسایلو کې ځینې مثالونه وړاندې کړو.

ketabton.com - The Digital Library



(الف) **حنفي مذهب**:

۱- په اوداسه کې نیت ته اړتیا نشته.
۲- بې ترتیبه اودس صحیح دی.
۳- د قي او وینې په وتلو اودس ماتېږي.
۴- په خوله او پوزه کې له اوبو اچولو پرته غسل نه صحیح کېږي.
۵- د عورت په لمسولو اودس نه ماتېږي.

(ب) **شافعي مذهب**:

۱- له نیت پرته اودس نه صحیح کېږي.
۲- بېله ترتیبه اودس نه کېږي.
۳- په وینه او قي اودس نه ماتېږي.
۴- په خوله او پوزه کې له اوبو اچولو پرته غسل صحیح کېږي.
۵- د ښځې او عورت په لمسولو اودس ماتېږي.

درنو لوستونکو !

تاسو ولوستل چې د مذهبي کړیو تر منځ د افضل او غیرافضل اختلاف دی، که د حلال او حرام؟ که یو سړی د حنفي فقهې له مسئلې سره سم اودس کوي، نو اودس یې شوی، خو د شافعي فقهې له نظره د هغه اودس صحیح نه دی.
یعنې که دا سړی لمونځ وکړي، نو د احنافو په اند د هغه لمونځ صحیح دی، خو د شوافعو په اند د هغه لمونځ صحیح نه دی، ځکه دا سړی د هغوی له نظره بې اودسه دی. لنډه دا چې د شافعي لمونځ په حنفي او د حنفي لمونځ په شافعي پسې نه کېږي.

ketabton.com - The Digital Library



**(ب) اوس راشئ د لمانځه مسایلو ته:**

**حنفي مذهب:**

۱- په الله اعظم، الله اجل، الله الرحمن او لااله الاالله سره هم لمونځ شروع کېدای شي.

۲- د فاتحې له ویلو پرته لمونځ صحیح دی.

۳- د قهقهې په کولو اودس ماتېږي.

۴- په لمانځه کې تعدیل ارکان فرض نه دی.

۵- د تشهد په اندازه کښېناستلو سره لمونځ صحیح دی، که څه هم تشهد او درود ونه ویل شي.

۶- د سلام ویلو پر ځای په خوراک او څښاک کولو او یا هوا ایستلو لمونځ صحیح کېږي.

**شافعي مذهب:**

۱- له الله اکبر پرته په بل لفظ لمونځ شروع کول صحیح نه دي، که نه لمونځ باطل دی.

۲- له سورة الفاتحې پرته لمونځ نشته.

۳- په قهقهه سره یوازې لمونځ فاسد ېږي، اودس پر خپل حال پاتې دی.

۴- له تعدیل ارکان پرته لمونځ نه کېږي.

۵- څو چې تشهد او درود ونه ویل شي، لمونځ نه کېږي.

۶- له سلام پرته په بل شي لمونځ پای ته نه رسېږي، بلکې لمونځ باطل دی.

اوس تاسو پخپله پرېکړه کولای شی چې ایا د دغو مذهبونو تر منځ د روا او ناروا اختلاف دی، که د افضل او غیر افضل؟!.

ketabton.com - The Digital Library



**ج) تاسو په نکاح کې هم ځینو مسایلو ته پام وکړئ:**

**حنفي مذهب:**

۱- د بیعې او هبې په لفظ سره نکاح تړل کېدای شي.

۲- له ولې پرته نکاح صحیح ده.

۳- په زور سره طلاق واقع کېږي.

۴- د ځلورمې ښځې په عده کې دننه د هغې له خور سره نکاح نه شي کېدای.

۵- په شهوت سره د یوې ښځې په لمسولو د هغې مور او خور دواړه حرامېږي.

**شافعي مذهب:**

۱- د نکاح او زواج له لفظ پرته نکاح نه صحیح کېږي.

۲- له ولې پرته نکاح باطله ده.

۳- په زور طلاق نه واقع کېږي، بلکې نکاح پر ځای پاتې ده.

۴- د ځلورمې ښځې په عده کې دننه د هغې له خور سره نکاح کېدای شي.

۵- په شهوت سره د یوې ښځې لمسول؛ نه د هغې خور حراموي؛ نه مور، بلکې هغه سړی له هرې یوې سره نکاح کولای شي.

درنو لوستونکو !

ایا دا دوه اسلامه نه دي؟ ایا دا شیان امت اتحاد ته رابولي، که ډلو-ډلبازیو ته؟ د خپلمنځي مینې بلنه ورکوي، که د کرکې؟ همدا وجه ده چې نن اسلامي امت پر ډلو-ټپلو وېشل شوی او یو پر بل نیوکې کوي.

له همدې کبله مونږ د ټولې نړۍ له مقلدینو څخه هماغه هیله کوو چې الله ﷻ څو ارلس سوه کاله وړاندې د هغه وخت له مسلمانانو څخه کړې وه:

فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللّهِ وَالرَّسُولِ.

یعنې که مو په یو شي کې اختلاف راغی، نو الله او رسول ته یې وسپارئ.

ketabton.com - The Digital Library



**(هـ) د خوراک او څښاک په شیانو کې څو مثالونه:**

**حنفي مذهب:**

۱- په سمندري حیواناتو کې له ماهي پرته نور ټول حرام دي.

۲- له شرابو پرته د بل نشه یي شي پر خوړلو حد نشته.

۳- د پسه یا غوایي تر حلالولو وروسته که یې له نسه مړ بچی راووزي، نو د هغه خوراک حرام دی.

۴- که ذبحه کوونکی قصداً (بسم الله) پرېږدي، نو حلال شوی حیوان مردار دی.

**شافعي مذهب:**

۱- په سمندر کې چې هر څه دي، د هغوی ټولو خوراک حلال دی.

۲- هر نشه یي شی حرام دی او په خوړلو یې حد لازمېږي.

۳- د حیوان په نس کې بچی د هغه په حلالېدو حلالېږي او خوراک یې صحیح دی.

۴- که د حیوان حلالوونکی قصداً (بسم الله) پرېږدي او که په هېره، په دواړو صورتونو کې هغه حیوان حلال دی.

دلته مو په لنډ ډول د دغو دوو مذهبونو تر منځ د اختلاف څو بېلګې راوړې، که نه د اختلافاتو سمندر خورا ژور او پراخ دی.

هدف مو دا و چې د مذهبونو تر منځ د حلال او حرام، روا او ناروا، باطل او حق اختلاف دی، نه د افضل او غیرافضل. **فافهم ولاتکن من الغافلین**

الله ﷻ ویلي دي:

**وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا. (الاحزاب، ۷۱ آیة)**

یعني چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړ، هغه لویه بریا ومونده.

ketabton.com - The Digital Library



## ستاسو څخه څو پوښتنې:

۱- په قرآن كريم، صحيح حديث او په څلورو امامانو كې د يوه په قول تقليد ثابت كړئ ! ګورئ په ياد لرئ چې شخصي تقليد به ثابتوئ، ځكه ستاسو دعوه همدا ده.

۲- ستاسو په فكر د اجتهاد دروازه بنده شوې ده، اوس نه څوك مجتهد كېداى شي او نه د اجتهاد اړتيا شته، نو ستاسو په اند ؛ چې كله عيسى عليه السلام ځمكې ته راشي، نو هغه به په كوم مذهب وي؛ حنفي، مالكي، شافعي او كه حنبلي؟.

۳- امام ابو حنيفة رحمه الله تر مجتهد كېدو وړاندې مقلد و، كه غيرمقلد ؟ كه مقلد و، نو د چا تقليد يې كاوه؟ او كه نه و، نو معلومه شوه چې غيرمقلد و.

۴- د امام ابو حنيفة رحمه الله د مذهب تر خپرېدو وړاندې خلكو د چا تقليد كاوه؟ كه يې نه كاوه، بيا خو هغوى غيرمقلدين شول. همدارنګه د مالكي، شافعي او حنبلي مذهبونو تر خپرېدو وړاندې د دغو مذهبونو پلويانو د چا تقليد كاوه؟.

فَإِن لَّمْ تَفْعَلُواْ وَلَن تَفْعَلُواْ فَاتَّقُواْ النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ.

لنډه دا چې تقليد يو نوى شى دى چې ورو-ورو يې د خلكو په زړونو كې ځاى پيدا كړ، آن هغوى يې په قرآن كريم او نبوي صحيحو احاديثو كې لاسوهنې او تحريف ته اړ ايستل. اعاذالله جميع المسلمن منه

## مصادر او مراجع:


(۱) القرآن الكريم

(۲) الاحكام فى اصول الاحكام لابن حزم رحمه الله

(۳) ارشادالفحول للشوكاني رحمه الله

(۴) اصول السرخسي

(۵) اصول البزدوي

ketabton.com - The Digital Library



(۶) الاعتصام للشاطبي رحمه الله

(۷) اصول الكرخي

(۸) اربعين النووي

(۹) اعلام الموقعين لابن قيم رحمه الله

(۱۰) تيسيرالتحرير

(۱۱) تفسير ابن كثير

(۱۲) تفسيرالقرطبي

(۱۳) تفسيرالمنير للدكتور وهبة الزحيلي

(۱۴) التفسيرالكبير للامام رازي

(۱۵) تفسيرالجلالين للامام سيوطي رحمه الله

(۱۶) تسهيل اصول الشاشي

(۱۷) التوضيح والتلويح

(۱۸) التقليدواحكامه لسعدبن عبدالعزيزالشثري

(۱۹) التفهيمات الالهية للشاه ولي الله رحمه الله

(۲۰) الجامع الصغير للسيوطي رحمه الله

(۲۱) جامع بيان العلم وفضله لابن عبدالبر رحمه الله

(۲۲) حجة الله البالغة للشاه ولي الله دهلوي رحمه الله

(۲۳) حاشيه حسامي

(۲۴) روح المعاني للالوسي رحمه الله

(۲۵) الردودلبكربن عبدالله ابوزيد

(۲۶) زادالمعاد

(۲۷) سنن ابي داؤد

(۲۸) سنن الدارمي

ketabton.com - The Digital Library



(۲۹) سنن ترمذي

(۳۰) سنن ابن ماجه

(۳۱) سنن النسائي

(۳۲) شرح عين العلم

(۳۳) شرح عقود رسم المفتي

(۳۴) شرح السنة للبغوي

(۳۵) صحيح البخاري

(۳۶) عقدالجيد

(۳۷) الفقه الاكبرللامام شافعي رحمه الله

(۳۸) فتاوی امدادیه

(۳۹) فتح القدير للشوكاني

(۴۰) الفقه الاسلامي وادلته

(۴۱) الموطاللامام مالک رحمه الله

(۴۲) مستدرک للحاكم

(۴۳) مشكاة المصابيح

(۴۴) مسلم الثبوت

(۴۵) مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح

(۴۶) المحلی بالاثارلابن حزم الاندلسي رحمه الله

(۴۷) نورالانوار

(۴۸) نفع الكبير

(۴۹) الهدايه

(۵۰) ردالمحتار

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*